٦.استعمار و استثمار: اشاعه و پخش فرهنگ ولخرجی و مصرف‌گرایی در اکثر جوامع بشری از استعمار و استثمارگری سرچشمه می گیرد، عموماً کشورهای صنعتی بزرگ جهان جهت فروش محصولات و اموال تجاری، اضافی و یک‌بار مصرف خود، از طریق استعمار و یا هم استثمار، بازار خوبی را در کشورهای جهان سوم برای خود فراهم می‌نمایند و مردم را درگیر هزینه‌های سنگین زنده‌گی ناشی از مصرف بی‌رویه، اسراف و تبذیر می‌سازند و این حقیقت انکار نا پذیر است که اکثر از اقتصاد دانان جهان به این نقطه پی برده و به آن معترف اند.

**چرا اسراف و تبذیر زشت و ناپسند است؟**

**اول:** اسراف و تبذیر شرعاً گناه و معصیت الهی است

گناه انسان را از مسیر طاعت الله متعال خارج می‌کند، اگر چه این گناه بدون صرف مال هم باشد اسراف و تبذیر بوده و تجاوز از دستورات الهی پنداشته می‌شود مانند: تجاوز از حد اعتدال در گفتار، رفتار و مراودات با مردم. بناءً کلمه‌ای گناه با اسراف و تبذیر مترادف است و حقیقت امر هم گواهی به این دارد که هر گناه تجاوز از حد و حدود تعیین شده الهی بوده و در چوکات اسراف و تبذیر داخل می‌باشد پس می‌توانیم بگوییم که اسراف و تبذیر در ذات خود یک نوع از گناه بوده و با نص صریح قرآن و حدیث نهی آن ثابت می‌باشد. چنان‌چه الله متعال می‌فرماید: «كُلُوا وَشرَبُوا وَلَا تُسرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ المُسرِفِينَ» آیهٔ ۳۱ سورهٔ الاعرافَ ترجمه: بخورید و بنوشید و اسراف نکنید، به تحقیق که الله متعال اسراف کننده‌گان را دوست ندارد.

**دوم:** عقل و معیارهای آن اسراف و تبذیر را زشت و ناپسند می‌داند

اگر چه اصول و قواعد شرعی بر مبنای نقل استوار است نه به عقل ولی باز هم برخی از اعمال انسان‌ها را عقل نیز مُهر تأیید و یا رد می‌گذارد. فلهذا عقل سالم و هر آنچه معیارهای آن است به زشتی و اتلاف مال حکم می‌کند و تجاوز از حد وسط را در مصرف مال و دارایی‌ها نوعی از سفاهت و جهالت می‌شمارد مانند: انفاق نمودن به کسی که مستحق نیست و یا هم مصرف نمودن مال در جای که ضرورت به آن حس نمی‌شود. پس هر مصرف و انفاق که عقل آن را زشت شمارد و به صاحبش ضرر رساند اسراف و تبذیر بوده و حرام می‌باشد.

**سوم:** در عرف و عادات جامعه اسراف و تبذیر مردود دانسته می‌شود

جود و سخا یکی از عادات افراد خیّر، عیار و جوان‌مرد به‌شمار می‌رود اما مال و دارایی خود را با دیگران در میان گذاشتن و راه سخاوت را به‌پیش گرفتن از خود حد و مرز دارد و محدود به آن حدود تعیین شده‌ای می‌باشد که عرف جامعه آن را نیک پسندیده و براساس آن موقعیت اقتصادی و اجتماعی هر فرد مشخص گردیده است، طوریکه کاستی از آن، بخل بوده و زیاده روی در آن خارج شدن از اعتدال و قدم نهادن به سمت اسراف و مسرفین می‌باشد. بناءً عرف و عادات مردم جامعه در صورتیکه با اصول و مقرارت شرعی در تضاد قرار نداشته باشد در نزد شریعت یک اصل است و بر آن عمل کرده می‌شود و خوشبختانه عرف و عادات مردم ما اسراف و تبذیر را مردود می‌داند.

**چهارم:** اسراف و تبذیر عمل شیاطین است

افراد که اسراف و تبذیر می‌کنند، مال و دارایی خود را به هدر می‌دهند و در مصارف صرفه‌جویی نمی‌کنند، در حقیقت از جمله کسانی می‌باشند که پیروی از دستورات شیاطین نموده و به راه غلط در حرکت اند. چنان‌چه الله متعال می‌فرماید: «وءَاتِ ذَالقُربَا حَقَّهُ وَالمسكينَ وَابنَ السَّبيلِ وَلَا تُبَذرتَبذِيراً إِنَّ المُبَذرِينَ كَانوُاإِخوَانَ الشَّياطِينِ وَ كَانَ اَلشَّيطانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا» آیهٔ ۲٦ و۲۷ سورهٔ الاسراء ترجمه: و بدهید از مال خود حق کسانی را که نزدیک به شما است (خویشاوندان) شما و حق کسانی را که نیازمند و تهی دست اند و حق کسانی را که مسافر اند و در مصرف خود اسراف و تبذیر مکنید، به تحقیق که اسراف و تبذیر کننده‌گان برادران شیاطین اند و شیطان نسبت به پروردگار خود بسیار نا سپاس است. یعنی از مال، دارایی و امکانات دست داشتهٔ خود چنین استفاده‌ای مکنید که همه به هدر رود، نه آنقدر بُخل کنید که چیزی به کسی ندهید و نه هم آنقدر ولخرجی نمایید که خود تان در نهایت تهی‌دست و محتاج دیگران شوید بلکه در مصارف خود اعتدال و میانه‌روی را در نظر بگیرید.

**نمونه‌های اسراف و تبذیر:**

**اول:** ضایع نمودن و به هدر دادن مواد خوراکی و پوشاک و یا هم استفاده نمودن آن‌ها به بیش از حد نیاز.

**دوم:** استفاده نادرست از منابع و امکانات طبیعی و عمومی و بکار گیری این امکانات بدون برنامه‌ریزی، تفکر و تعقل.

**سوم:** بی برنامه‌گی در زنده‌گی، ضیاع وقت و گذراندن آن در کارهای غیر ضروری لهو و لعب، همه این موارد از جمله نمونه‌های بارز اسراف و تبذیر اند.

**اسراف و تبذیر در زنده‌گی ما چی پیامدهای مادی و معنوی را به بار می‌آورد؟**

۱.سرمایه‌ی ما هدر می‌رود، به فقر و تنگ‌دستی مبتلا می‌شویم؛
۲.حقوق فقراء و نیازمندان زیر پا می‌شود؛
۳.رزق ما کاهش یافته و برکت از مال و دارایی ما می کوچد؛
٤.با شیطان همدم و رفیق می‌شویم؛
٥.دعاء ما مستجاب نمی‌گردد؛
٦.در زمره‌ای غضب شده‌گان محسوب می‌شویم؛
۷.به سمت طغیان و سرکشی سوق شده و همواره گناه از ما سر می‌زند؛
۸.آرامش روحی و روانی خود را از دست می‌دهیم.

**پیامدهای اجتماعی اسراف و تبذیر:**

**اول:**اسراف و تبذیر باعث به وجود آمدن اختلافات طبقاتی در اجتماع می‌شود.

**دوم:**اسراف و تبذیر وابسته‌گی اقتصادی را در اجتماع به میان می‌آورد.

**سوم:** اسراف و تبذیر حس مسؤلیت پذیری را در اجتماع آهسته آهسته کاهش داده و سر انجام این حس را کاملاً از بین می‌برد.

**چگونه می‌توان از اسراف و تبذیر جلوگیری کرد؟**

۱.عمل به احکام شرعی و اختیار نمودن تقوا و پرهیزگاری؛
۲.از بین بردن زمینه‌های اسراف و تبذیر؛
۳.توجه نمودن به آثار و پیامدهای بد اسراف و تبذیر؛
٤.تغییر موقعیت برای ترک اسراف و تبذیر؛
٥.پیروی از الگوهای صحیح مصرف و آموزش صرفه‌جوی؛
٦.حرمت قایل شدن به نعمت‌های الهی؛
۷.مدیریت دقیق منابع مالی؛
۸.تربیت درست خانواده‌گی؛
۹.ساده زیستن و دوری از تجملات؛
۱۰.جدی گرفتن قوانین و مقرارت نهادهای عدلی و قضایی.




# لغمان، ننګرهار او کونړ ولایتونو ته د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین، الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي او ورسره د مل پلاوي رسمي سفر

**د کار چارو معین د لغمان ولایت له والي سره ولیدل**

کتنه کې دواړو لوریو د دې ولایت په کچه د روانو پراختیایي پروژو، په دې پروژو کې خلکو ته د کار زمینې برابرولو، مختلفو برخو کې د خدماتو د وړاندې کولو پر څرنګوالي، د دې ولایت ځوانانو ته د فني او حرفوي زده‌کړو د پراختیا، د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو څخه ملاتړ، پانګه والو ته د پانګونې زمینو برابرولو او له خپل نظام سره د ولسونو د نږدې همکاریو په اړه بحثونه او خبرې وکړې.

د لغمان والي، قاري بختیار معاذ د کار چارو معین او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست سربېره مختلفو برخو کې د دې ولایت د محلي ادارو له لوري د خدماتو وړاندې کولو په اړه معلومات شریک او په دې برخو کې یې د لا ډېرې پاملرنې ډاډ ورکړ.

**کونړ ولایت ته سفر**

د کار چارو معین په کونړ ولایت کې له فني او حرفوي زده‌کړو په فراغت غونډه کې ګډون او وینا  وکړه. په جوړه شوې فراغت غونډه کې د کار چارو معین، الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي خپله وینا کې څرګنده کړه: خوښ یم چې د خپلو ملګرو په ملتیا مې یو ځل بیا کونړ ولایت ته رسمي سفر وکړ او دلته مې له خپلو مېړنیو ولسونو سره د لیدوکتو سربېره، د ځوانانو په فراغت غونډه کې ګډون وکړ، چې له نیکمرغه څه باندې ۳۰۰ تنو ځوانانو خپل د فراغت سندونه او کاري وسایل ترلاسه کړل.

د کار چارو معین د خپلو خبرو په دوام کې زیاته کړه: د امارتي ادارو په ځانګړې توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت هڅه دا ده چې هره برخه کې د کونړ ولایت ولسونو ته لازم خدمات وړاندې او د دوی ترڅنګ پاتې شي. همدارازیې پر همکارو موسساتو هم غږ وکړ، چې دوی ته لازم فرصت برابر شوی، هڅه دې وکړي چې ټولو لرو پرتو سیمو په ځانګړې ډول کونړ ولایت کې دې خپل خدمات پراخ او ګړندي کړي.

**د کار چارو معین کونړ ولایت، اسعد آباد روزنتون کې د خیاطۍ حرفه او د اناثو روزنتون کې د لمریزې برېښنا سیستم پرانېستل.**

په پرانېست غونډه کې د کار چارو معین، الحاج مولوي محمد زاهد

احمدزي په خپلو خبرو کې وویل: د کار او ټولنیزو چارو وزارت یو له عمده مسوولیتونو څخه د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو لازم ملاتړ او دوی ته د ژوندانه د سهولتونو برابرول دي، چې په همدې موخه یې په ټولو ولایتونو کې روزنتونونه فعال او په کې د یادو ماشومانو لازمه ساتنه او پالنه کوي. د کار چارو معین پخپلو خبرو کې زیاته کړه: د خوښۍ ځای دی چې د اسعد آباد روزنتون زده کوونکو ته د خیاطۍ حرفه پرانېستل شوه، ترڅو هغوی د دیني او عصري زده‌کړو سربېره د حرفې زده‌کړه هم وکړي.

همدا راز د کار چارو معین د اناثو روزنتون کې د لمریزې برېښنا سیستم ګټې اخیستنې ته وسپاره او څرګنده یې کړه، چې له دې وروسته به د روزنتون زده کوونکو ته څلورویشت ساعته برېښنا تامین شي. د خبرو په دوام کې الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په دې برخو کې د کونړ ولایت د کار او ټولنیزو چارو رئیس مولوي مجیب الله عمر او کارکوونکو له هڅو او کوښښونو څخه هم قدرداني وکړه.

## ننګرهار ولایت ته سفر

د کار چارو معین په ننګرهار ولایت کې له فني او حرفوي زده‌کړو څخه د راستانه شویو هېوادوالو په فراغت غونډه کې ګډون او وینا وکړه.

په دې غونډه کې د کار چارو معین، الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي وویل: د افغانستان اسلامي امارت د بېرته راستنېدونکو هېوادوالو لپاره د کارموندنې، دوی ته د ځمکو وېش او صنعت‌کارانو ته یې د صنعتي ښار ګوټو د جوړولو په برخه کې ژمن او په دې اړه یې مختلفو ولایتونو کې اقدامات ترسره کړي دي او په همدې ترتیب د امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د ځانګړي حکم مطابق، د کار او ټولنیزو چارو وزارت په مشرۍ او د اړوندو ادارو په غړیتوب کمېټه جوړه شوې، ترڅو راستانه شویو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو زمینه برابره کړي، چې دا وزارت توانیدلی په ځانګړي معلوماتي بانک کې د کډوالو اړین مهارتونه (په راتلونکي کې د کارموندنې په موخه) ثبت کړي او هم یې له اړوندو امارتي او غیر امارتي ادارو سره په دې تړاو مجلسونه کړي او دغه لړۍ لا هم روانه ده.

د کار چارو معین یادو ځوانانو ته د زده کړو او کاري وسایلو د برابرولو له امله د قطر سرې میاشتې همکارې موسسې له مرستې څخه د منني ترڅنګ له نورو همکارو موسساتو څخه هم وغوښتل چې د افغانستان اسلامي امارت د پالیسیو او اصولو مطابق دې، بېرته راستنېدونکو کډوالو ته د کارموندنې په برخه کې همکارۍ پراخې کړي چې په دې برخه کې به د کار او ټولنیزو چارو وزارت هغوی ته سهولتونه برابر کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې بهیر کې ۴۵ تنو راستانه شویو ځوانانو ته مختلفو حرفو کې د زده‌کړو او ۴۵ تنو نورو ته د کوچنیو کارونو زمینه برابره شوه.

**د کار چارو معین د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې ۶۰ تنو راستانه شویو هېوادوالو ته د فني او حرفوي زده‌کړو برنامه پرانېسته**

د کار چارو معین، په همدې مناسبت جوړې شوې ناسته کې وویل: د افغانستان اسلامي امارت بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ته د کارموندنې، سرپناه او پانګه والو ته د صنعتي ښارګوټو د برابرولو په موخه عملي اقدامات کړي او ژمن دی، چې په دې برخو کې روانې هڅې لا ګړندۍ کړي. الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي زیاته کړه: د امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د حکم په مطابق؛ د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د کارموندنې کمېټې مسوول په توګه هڅه کوي چې د اړوندو امارتي او غیر امارتي ادارو او خصوصي سکتور سره په همغږۍ بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر او ترڅنګ یې لېواله او په شرایطو برابرو ځوانانو ته فني او حرفوي زده‌کړې ورکړي.

د یادولو وړ ده، چې چپرهار ولسوالۍ کې ۶۰ تنو راستانه شویو ځوانانو ته د مبایل، رېکشا او لمریزې برېښنا د ترمیم په حرفو کې د ډاکار همکارې موسسې په همکارۍ، د اوو میاشتنیو زده‌کړو زمینه برابره شوه.

**د کار چارو معین په ننګرهار ولایت کې د محبس له مختلفو برخو لیدنه وکړه او محبوسینو ته یې د فني او حرفوي زده‌کړو لپاره د دې وزارت له هوډ څخه خبر ورکړ**

د کار چارو معین محبوسینو ته د سهولتونو د برابرېدو له امله د زندانونو چارو د سمون ادارې څخه مننه ترسره او څرګنده یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته له محبوسینو سره د اسلامي اصولو پر مطابق چلند کېږي، دا مراکز اوس د ښوونې او روزنې په مرکزونو بدل شوي او د محبوسینو ستونزو ته تر ډېره بریده رسېدنه شوې او په همدې توګه یې له محبوسینو وغوښتل چې له ښوونیزو او روزنیزو برنامو څخه ګټوره استفاده وکړي.

الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي زیاته کړه: د کار او ټولنیزو چارو وزارت هوډ لري، چې په محبسونو کې د کار بازار د اړتیاوو په مطابق د فني او حرفوي زده‌کړو زمینه برابره کړي، تر څو د دیني او عصري علومو د ترلاسه کولو سربېره؛ محبوسین وکولای شي مهارت هم ترلاسه کړي.

په دې سفرونو کې د مطبوعاتو رئیس سمیع‌الله ابراهیمي، د معینیت سلاکار مولوي محمد کریم حنفي، د معینیت د دفتر آمر محمد منیر باور او ځیني نور همکاران د کار چارو معین سره ملګري وو.



# د افغانستان اسلامي امارت په ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت څېړنه


ليکوونکي:
پوهنيار محبت شاه محبت او پوهنيار عمران رفيق
۱. د تشبثاتو اداره او مدیریت څانګه، اقتصاد پوهنځی، سیدجمال الدین افغاني پوهنتون، اسعد آباد- افغانستان



## لنډيز

دا څېړنه د افغانستان امارتي ادارو کې د دندې څخه د کارکوونکو پر رضایت د اغېزمنو عواملو د معلومولو په موخه ترسره شوې ده. د دې څېړنې اصلي او اساسي موخه دا ده، چې په دولتي ادارو کې د کارکوونکو په رضایت باندې اغېز لرونکي عوامل وپېژندل شي. د څېړنې ترسره کولو لپاره لومړی او دوهيم لاس معلومات راټول شوي دي، د لومړي لاس ساحوي معلوماتو(کونړ، ننګرهار، لغمان، کابل او میدان وردګو ولایتونو) راټولولو لپاره جوړه شوې پوښتنپاڼه د۳۸۴ تنو د اړوندو ولاياتو دولتي پوهنتونونو، روغتونونو، پوهني رياستونو، بانکونو، مستوفيتونو او يو شمېر نورو متفرقه دولتي ادارو کارکوونکو ترمنځ وېشل شوې وې، چې ۳۷۱ د کاروني وړ پوښتنپاڼې ترلاسه او تحليل شوي دي او دوهيم لاس معلومات د کتابونو، مقالو، ژورنالونو او انټرنېټي سايټونو د مطالعې څخه ترلاسه شوي. راټول شوي معلومات د SPSS ۲۵ پر مټ د څو ګوني ريګريشن( Multiple Regression ) په نظر کې نيولو سره تحليل او تجزيه شوي. له احصائيوي تحليل څخه څرګنده شوه چې د احصائيوي ټيسټ (t-statistics) پايلې د پام وړ (Significant) دي، د (F-Test) لپاره د (Sig) ارزښت هم د ٪۵ په کچه کې د پام وړ ده؛ نو کارول شوی ماډل غوره دی. د څېړنې ترسره کولو او د معلوماتو له تحليل څخه دا پايله ترلاسه شوې چې حقوق او امتيازات، کاري محتوا، ترفيع، نظارت کوونکي او همکاران د وظيفوي رضايت اغېز لرونکي عوامل دي، چې دغه عوامل تقريباً ۷۷،۲سلنه وظيفوي رضايت تشريح کولای شي او پاتې ۲۲،۸ سلنه نور عوامل شتون لري چې د دندې څخه د کارکوونکو رضايت تشريح کړي.



د مهمو کلمو لېست: دولتي سکتور، کارکوونکي، دنده، رضايت، د دندې رضايت.


## سريزه

هر سازمان او هره اداره د ودې او پرمختګ لپاره لوی او کوچني پلانونه لري، چې بشري ځواک په دغه پلانونو کې ډېر اهميت لري او له بنسټيزو سرچينو څخه شمېرل کېږي. د دې لپاره چې اداري خپل اهداف تر لاسه او يو اغېزمن مديريت سرته ورسوي؛ نو بشري ځواک لازم او اړين دی.

د دغو سرچينو مديريت کول د انساني سرچينو مديريت دنده ده، چې د انساني ځواک د ساتلو، د اړتياوو په پوره کولو او استخدام په اړه پلانونه نيسي؛ نو کوم انساني ځواک چې غواړي خپله دنده پرېږدي، نوموړی مديريت دنده لري، چې د هغې لاملونه او حللارې ورته ولټوي، ځکه دوی چې کله اداره پرېږدي کوم مهارت او رويه يې چې جوړه کړې وي هغه له ځانه سره وړي او نوی کس چې ګمارل کېږي تربيې (ټرينينګ) ته ضرورت لري، تر څو د اداري ضروري مهارتونو او رويې سره ځان اشنا کړي او خپله دنده په سم ډول ترسره کړي.

د دندې رضايت د کارکوونکو او کار د چاپېريال ترمنځ يو تقابل ښايي چې کارکوونکی يې د کار(دندې) څخه غواړي او کارکوونکی ترلاسه کېدونکي څېز په اړه څه فکر کوي. له دندې رضايت د اداري مؤلديت باندې د يوې مهمې اغېزې توقع کېږي او ښودل شوې چې هغه کومې ګټې دي، چې کارکوونکی يې له اداري څخه ترلاسه کوي؛ هڅې ،مهارتونه او خلاقيت اغېزمن کوي کوم چې کارکوونکی غواړي خپل کارفرما ته يې برابر کړي(Locke, ۱۹۷٦, p. ۱۳۰۰).

په ځانګړې توګه له دندې څخه رضايت اداري ته د ګټې په کار پورې اړوند دوه رويو پسې تړلې ده کوم چې د برنارډ (Barnard) لخوا ښودل (مشخص) شوي. الف: هغه تشويق چې کارکوونکی په اداره کې تل پاتې شي؛ او ب: هغه تشويق چې کارکوونکی په اداره کې سخت او ښه کار وکړي.(Iaffaldano & Muchinsky, ۱۹۸۵; Katz & Kahn, ۱۹٦٦; Morse & Weiss, ۱۹۵۵; Mitchell, ۱۹۷۹; Vroom, ۱۹٦٤; Wechsler, Kahane, & Tannenbaum, ۱۹۵۲).

دا موندل شوې ده، چې له دندې څخه رضایت د کارکوونکي په ساتنه او د نورو غړیتوب پورې اړوندې رویې پورې به تړاو ولري. که څه هم غیر مستقیم وي، خو د ادارې په مؤلدیت به مهم نفوذ ولري، د لګښتونو په کمولو سره کوم چې د تاریکې کارکوونکي رویې پورې اړه لري (Farrell & Stamm, Absenteeism and turnover). ۱۹۸۸; Heneman, Schwab, Fossum, & Dyer, ۱۹۸۳; Lawler, ۱۹۹٤; Spector, ۱۹۹۷).

افغانستان یو داسې ملک دی، چې د پام وړ اقتصادي او سیاسي بدلونونو سره مخ شوی دی؛ نو د افغانستان امارتي ادارو کې له دندې څخه د کارکوونکو د رضایت په اړه پوهېدل خورا مهم دي. د دې څېړنې موخه دا ده، چې د افغانستان امارتي ادارو کې د دندې څخه د کارکوونکو د رضایت کچه معلومه او د کارکوونکو د دندې په رضایت باندې د اغېز لرونکو عواملو ترمنځ اړیکې د څېړلو تشه ډکه کړي. د څېړنې په عمده برخو کې لنډیز، کلیدي کلیمې، سریزه، د مسئلې طرحه یا ستونزه، د څېړنې اړتیا او ارزښت، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې موخې، تیرو لیکونو ته کتنه، د څېړنې ډول او کړنلاره، مناقشه، د څېړنې موندنې، پایله، وړاندیزونه او سرچینې شاملې دي.

## د مسئلې طرحه یا ستونزه

دا څېړنه د افغانستان امارتي ادارو کې له دندې څخه د کارکوونکو رضایت او د دندې د رضایت اغېز لرونکي عوامل څېړي.

د دولتي اداراتو د کارکوونکو رضایت لوړول د هر ملک په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي ځکه د یو ملک اقتصادي پرمختګ د سرچینو او پانګې په سم استعمال چې د اقتصاد په یو شمېر برخو لکه سوداګرۍ، صنعتي پراختیا، کرنه او نورو کې په عملیاتي موثریت پورې اړه لري، خورا مهم دي. په دې اساس، په ملک کې د کارکوونکو رضایت لوړول د ټولو اقتصادي فعالیتونو موثریت زیاتوي. مراجعه کوونکو او پېریدونکو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو لپاره دولتي ادارې باید خپل کارکوونکي په دندو کې د ټولو اړخونو څخه راضي وساتي او هغه عوامل پیدا کړي، چې د کارکوونکو په رضایت مثبت اغېز ولري ترڅو ټولنې او خلکو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي. په دولتي ادارو کې د کارکوونکو د دندې څخه نارضایت د ادارې هغه مراجعه کوونکي او پېریدونکي چې د داسې کارکوونکو څخه خدمات تر لاسه کوي اغېزمنوي. نو ویلی شو چې دولتي ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت نشتون یوه ستونزه ده چې د یوې ادارې اجراات او کړنې ور سره ټکنی کېږي. د نړۍ په یو شمېر ملکونو کې په دولتي ادارو کې د دندې څخه د کارکوونکو رضایت په اړه ګڼ شمېر څېړنې ترسره شوې دي، خو په افغانستان کې په دې اړه ځانګړې څېړنې نه‌دي تر سره شوي؛ نو د دې تشې د ډکولو او په اړونده موضوع کې د معلوماتو اضافه کولو لپاره دغه څېړنه ترسره شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او اړتیا

په یوه اداره کې له دندې څخه د کارکوونکو رضایت تر لاسه کول هغه اساسي او مهم عامل دی، چې یو کارکوونکی اړوندې ادارې ته وفاداره پاتې کېږي او د خپل ټول وس او توان په اندازه ورته کار کوي چې یوه طرف ته خپله اداره پرمختګ لور ته بیایي او له بله اړخه د اړوندې ادارې مراجعینو او پېریدونکو ته غوره او اغېزمن خدمتونه وړاندې کوي، چې په دې سره په یوه ټولنه کې د ادارو څخه کارکوونکي مستقیم او پېریدونکي په غیر مستقیم ډول متاثره کېږي، کله چې له یوې ادارې څخه کارکوونکي او پېریدونکي راضي شي په دې سره د وړاندې کېدونکو توکو او خدمتونو کیفیت خوندي کېږي او بله دا چې په اوسني عصر کې ټول دولتي او غیردولتي ادارې او بنسټونه د محصولاتو د کیفیت په ساتلو ټینګار کوي، ترڅو خپلو ستراتېژیکو موخو ته ورسېږي.

دا چې د افغانستان امارتي ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت په اړه څېړنې ډېرې محدودې دي؛ نو په دې وجه دا مهمه وه ترڅو په دې برخه کې یوه څېړنه ترسره او د کارکوونکو رضایت وکتل شي، چې څومره د اړوندې ادارې له پالیسیو څخه خوښ دي. ادارې کولای شي چې له دې څېړنې څخه په ګټې اخیستنې سره د کارکوونکو د راضي ساتلو لپاره د غورو لارو چارو څخه ګټه واخلي او هغه پالیسۍ چې د کارکوونکو د نارضایت سبب او بې ګټې وي بدلې کړي او د دې ترڅنګ به د څېړنې پایلې د څېړونکو او اکاډمیکو اشخاصو د علمي څېړنو لپاره خورا ګټورې وي.

## د څېړنې موخه

۱. د افغانستان په امارتي ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت د اغېزمنو عواملو پېژندل.

## د څېړنې پوښتنه

۲. د افغانستان په امارتي ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت اغېزمن عوامل کوم دي؟

## د څېړنې د ادبیاتو ارزونه (د څېړنې مخینه)

د افغانستان په دولتي سکتور کې د ښځینه کارکوونکو د دندې په رضایت څېړنه شوې او موندنې یې ښیي چې د ښځینه کارکوونکو د معاشونو زیاتوالي او ترفیع د دوی د دندو د رضایت اصلي عوامل دي. په داسې حال کې چې ټیټ معاش، د معاشونو په ورکړه کې ځنډ او د کار ځای نشتون د لویو ننګونو په توګه یاد شوي دي.(Mehrzad et al, ۲۰۲۱).

د افغانستان په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې د کارکوونکو د دندو پر رضایت یوه څېړنه شوې او پایله یې ښیي ډېر شمېر خواب ویونکي دې سره ډېر همغږي دي، چې له دندې رضایت غیرحاضري کموي خو کم شمېر ځواب ویونکي له دې سره همغږي نه دي چې له دندې څخه رضایت د غیر حاضرۍ د کموالي سبب کېږي همداشان د کار شرایط، مزد، معاش او کاري چاپېریال د دندې په رضایت اغېزې لري (Farid,?).

هغه عوامل چې د کارکوونکو د دندو رضایت زیاتوي باید د حکومت لخوا وارزول شي، ترڅو د فعالیت د کچې زیاتوالي سره علاقه زیاته کړي دا څېړنه ښیي چې د انعام سیستم د خصوصي سکتور په پرتله په دولتي سکتور کې توپیر لري(د پرداخت، ګټې او رواني ارزښت له مخې) په عین وخت کې د دولتي کارکوونکو او خصوصي کارکوونکو ترمنځ د رضایت کچه هم توپیر لري (DeSantis et al, ۱۹۹٦).

د کارکوونکو د ځینو معیارونو لکه: معاش، ګټې، کاري شرایطو، ارتقاء او له اړیکو څخه لږ رضایت ښودلی او د شغلي طبیعت همکارانو او د نظارت د شکل له اړخه یې ډېر رضایت ښودلی دی. د کارکوونکو لخوا د رهبرۍ رویې کارول او د دندې رضایت یو بل سره د پام وړ اړیکه درلوده (Mohammad Mosadegh Rad and Hossein

Yarmohammadian ۱۱) .

د پاکستان په بانکي سکتور کې د کارکوونکو د دندې په رضایت باندې د سازمان د کلتور اغېزو د څېړنې پایله ښيي چې یو ښه نگران (Supervisor) او خپلواک ارتباط (خبري اترې) درلودل د دندې په رضایت د پام وړ اغېزې لري حال دا چې قوانین او سیاستونه او همدارنگه مزد او گټه د دندې په رضایت کوم اغېز نه لري. (Khan et al. ۲۰۱۱).

د کارکوونکو تجربه، د مختلفو ډولونو د انعطاف وړ کاري ترتیبات (FWAs)، د انعطاف وړ ځای او د ساعتونو په پرتله د انعطاف وړ مهالوېش د دندې په رضایت پورې ډېره اړه لري او دواړه د انعطاف وړ مهالوېش او ځای د انعطاف وړ ساعتونو شمېر په پرتله اداري ژمنو پورې په ډېر مثبت ډول اړیکه لري. همدارنگه دغه موندنې ښيي هغه کارکوونکي چې د انعطاف وړ مهالوېش کاروي د هغو کارکوونکو په پرتله چې نه يې کاروي لږ وظیفوي رضایت او اداري ژمنتیا لري. دا پایلې په عملي او نظري مفاهیمو وړاندې شوې دي. (Chen et al, ۲۰۱۸).

کاري انعطاف، د دندې رضایت او د دندې اجرااتو ترمنځ د کارکوونکو د جذب تر عنوان لاندې د څېړنې پایلې ښيي چې کاري انعطاف کارکوونکو ته اجازه ورکوي، ترڅو په دې وتوانېږي چې د مسلکي او خپل شخصي ژوند ترمنځ تعادل رامنځته کړي او د دندې په رضایت او اجرااتو کې زیاتوالی راولي، همدارنگه د اداري په کلي سلامتیا کې زیاتوالی پیدا کېږي. د کار په ځای کې انعطاف منل حیاتي دي. د ډیجیټال او ټکنالوجۍ په بدلون سره اجازه ورکول کېږي، چې په بېلابېلو حوزو کې یوازې په یوه انټرنېټي نښلونې سره ډېری فعالیتونه ترسره شي. کارکوونکو د کاري ځایونو نویو اشکالو ته د کاري ځای د انعطاف منلو له اړخه ښه غبرگون ښودلی، چې په دې سره د خپلواکۍ او علاقې لوړوالی ښودل شوی دی. (Davidescu et al, ۲۰۲۰)

پورته تېرو لیکونو ته په کتنه لاندې طرحه شوې ماډل لیکو، چې:

Theoretical Framework




## د څېړنې مواد او کړنلاره

خرنگه چې دا یوه کمي څېړنه ده نو د ترسره کولو لپاره یې د لومړي او دوهیم لاس معلوماتو څخه گټه اخیستل شوې ده. د لومړي لاس ساحوي معلوماتو(کونړ، ننگرهار، لغمان، کابل او میدان وردگو ولایتونو) راټولولو لپاره جوړه شوې پوښتنپاڼه د ۳۸۴ تنو د اړوندو ولایتونو د دولتي پوهنتونونو، روغتونونو، پوهنې ریاستونو، بانکونو، مستوفیتونو او یو شمېر نورو متفرقه دولتي ادارو کارکوونکو ترمنځ وېشل شوې وې، چې ۳۷۱ د کاروني وړ پوښتنپاڼې ترلاسه او تحلیل شوې دي، نوموړې پوښتنلیک چې ډیزاین یې د پنځه ټکه ییز لیکرټ مقیاس(Five point Likert scale) دی (ډېر زیات رضایت، زیات رضایت، متوسط رضایت لږ رضایت، ډېر لږ رضایت) کارول شوې، او دوهیم لاس معلومات د ژورنالونو، مجلو، انټرنېټ، وېب پاڼو او کتابونو څخه ترلاسه شوي دي، چې د نوموړو معلوماتو د تحلیل لپاره د څوگووني ریگریشن (Multiple Regression) ماډل څخه گټه اخیستل شوې او راټول شوي معلومات د (SPSS۲۵) په وسیله تحلیل شوي چې د څېړنې ساحه په کې د افغانستان پنځه ولایتونه (کونړ، ننگرهار، لغمان، کابل او میدان وردگ) شامل دي. په دې څېړنه کې شپږ متحولین(د دندې رضایت، حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکي او همکاران) کارول شوي، چې له دندو څخه د کارکوونکو رضایت د ترلي او نور پنځه د خپلواکو متحولینو په حیث کارول شوي دي، چې دلته د خپلواکو متحولینو اغېز په ترلي متحول باندې مطالعه شوې چې ماډل یې په لاندې ډول دی:

$$JS = \beta_0 + \beta_1 (Com) + \beta_2 (Pro) + \beta_3 (JC) + \beta_4 (Sup) + \beta_5 (Col) + E_i$$

په پورته ماډل کې کارول شوي سمبولونه عبارت دي، له:

د دندې رضایت چې ترلي متحول دی JS= Job Satisfaction

ثابت پارامترونه ($\beta_0$)، ($\beta_1$)، ($\beta_2$)، ($\beta_3$)، ($\beta_4$) او ($\beta_5$)

د پنځو لاندې خپلواکو متحولونو د سمبولونو وضاحت په لاندې ډول دی:

| | |
|---|---|
| حقوق او امتیازونه | Com = Compensation |
| ترفیع | Pro = Promotion |
| د کار محتوا | JC = Job Content |
| نظارت کوونکي | Sup = Supervisor |
| همکاران | Col = Colleagues |
| تیروتنې | Ei |

## د څېړنې موندنې

دغه څېړنه د افغانستان په امارتي ادارو کې له دندې څخه د کارکوونکو د رضایت د اغېزمنو عواملو د معلوملو لپاره ترسره شوې ده، چې په دغه څېړنه کې له دندو څخه د کارکوونکو رضایت اغېز لرونکي عوامل(حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکي او همکاران) د خپلواکو متحولینو او له دندې څخه د کارکوونکو رضایت د ترلي متحول په حیث قبول شوي دي. دا چې خپلواک متحولین پنځه دي نو د هر خپلواک متحول لپاره پنځه پوښتنې په نظر کې نیول شوي دي، چې په ټوله کې د خپلواکو متحولینو د پوښتنو شمېر ۲۵ کېږي په لومړي سر کې د څېړنې لپاره د راټولو شویو معلوماتو اعتبار او حقیقت والي د Cronbach's Alpha په طریقه آزمایل شوې چې په لاندې جدول کې یې اندازه ښودل شوې ده:

۱. جدول: د معلوماتو حقیقت والي
سرچینه: څېړونکی
په ټولنیزو علومو کې د ښه مقیاس اعتبار لپاره وړاندیز شوی ارزښت ۰.۷۰ او یا له دې څخه پورته وي (Straub et al., ۲۰۰٤). له دې آزموینې

| Reliability Statistics | |
|---|---|
| Number of items | Cronbach's Alpha |
| 25 | .887 |

څخه تر لاسه شوې پایله ۰.۸۸۷ ده، چې له ۰.۷۰ ټاکل شوي معیار څخه لوړه ده؛ نو پر دې بنسټ ویلی شو چې د ترتیب شوي پوښتنلیک په واسطه راټول شوي معلومات د اعتبار وړ دي.
د څو ګوني ریګریشن (Multiple Regression) پر اساس د بیان شویو عواملو تحلیل شوي معلومات په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.
۲. جدول: د ریګریشن ماډل لنډیز
سرچینه: څېړونکی
په ۲ جدول کې د ریګریشن پایلې وړکول شوې دي، چې له دندې رضایت او حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکي او د

**Model Summary**

| Model | R | R Square | Adjusted R Square | Std. Error of the Estimate | Change Statistics: R Square Change | F Change | df1 | df2 | Sig. F Change |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | .879[a] | .772 | .769 | .3551 | .772 | 247.110 | 5 | 365 | .000 |

a. Predictors: (Constant), Col, Job C, Com, Sup, Pro
b. Dependent Variable: JS

همکارانو تر منځ اړیکه او رابطه ښیي. د پورتني جدول د (R- Square) پایلې موږ ته په تړلي متحول کې بدلون یا (Variance) راښيي، چې د خپلواکو متحولینو په واسطه رامنځته شوې دي؛ نو له پایلو څخه داسې ښکاري چې په منځني شکل حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکي او د همکارانو په وسیله د کارکوونکو د دندې رضایت باندې٪ ۷۷,۲ په اندازه اغېز لري او پاتې ٪۲۲,۸ د نورو هغه متحولینو په وسیله تشریح کېږي، چې د دندې رضایت باندې اغېزه لري.

۳. جدول: د وریانس تحلیل (ANOVA) پایلې

| ANOVA[a] | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Model | | Sum of Squares | df | Mean Square | F | Sig. |
| 1 | Regression | 155.782 | 5 | 31.156 | 247.110 | .000[b] |
| | Residual | 46.020 | 365 | .126 | | |
| | Total | 201.802 | 370 | | | |

a. Dependent Variable: JS

b. Predictors: (Constant), Col, Job, Com, Sup, Pro

سرچینه: څېړونکی

په ۳ جدول کې د ماډل د غوره والي (Model Fit Measured) پایلې چې د (ANOVA) په واسطه تحلیل او د هغې پر بنسټ ورکړل شوې. د لاسته راغلو پایلو پر اساس (Sig. Value) مساوي له (۰،۰۰۰) سره ده او له (۰،۰۵) څخه کوچنۍ ده؛ نو د حقوقو او امتیازاتو، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکي او همکاران (ازاد متحولین) او له دندې څخه د کارکوونکو رضایت (تړلي متحول) ترمنځ ماډل (Fit) دي چې د تابع متحول د تشریح کولو توان لري، چې لاسته راغلې پایلې د پام وړ (Significant) دي او ښکاري چې کارول شوی ماډل ښه دی.

٤. جدول: د ضریبونو تحلیل

| coefficients[a] | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Unstandardized Coefficients | | Standardized Coefficients | | | Collinearity Statistics | |
| Model | | B | Std. Error | Beta | t | Sig. | Tolerance | VIF |
| 1 | (Constant) | -.346 | .102 | | -3.395 | .001 | | |
| | Com | .310 | .031 | .328 | 10.019 | .000 | .583 | 1.716 |
| | Pro | .197 | .024 | .278 | 8.197 | .000 | .542 | 1.844 |
| | Job C | .234 | .025 | .242 | 9.383 | .000 | .943 | 1.061 |
| | Sup | .187 | .025 | .222 | 7.406 | .000 | .698 | 1.433 |
| | Col | .184 | .020 | .247 | 9.015 | .000 | .829 | 1.206 |

a. Dependent Variable: JS

سرچینه: څېړونکی

د ۴ جدول د معلوماتو پر اساس د هر خپلواک متحول لپاره (T-Test) او د هغوی مؤثریت کچه یعني (Sig/p-value) راکړل شوې ده، چې په ترتیب سره حقوق او امتیازونه(Compensation)، ترفیع(Promotion)، د کار محتوا (Job Content)، نظارت کوونکي (Supervisor) او همکاران(Colleagues) خپلواک متحولینو مؤثریت کچه (Sig Value) د (۰،۰۵) څخه کمه ده؛ نو ویلی شو چې هر خپلواک متحول چې مورډ ټاکلی په تابع متحول باندې اغېزه لري. د ۴ جدول پر اساس د بیټا قیمتونه د ضریب (۰،۳۱۰) څخه عبارت دي، چې د وظیفوي رضایت سره مثبته اړیکه ښکاره کوي، یعنې د یو واحد حقوقو او امتیازونو په زیاتوالي سره په وظیفوي رضایت کې په ۰،۳۱۰ اندازه زیاتوالی رامنځته کېږي، د ترفیع ضریب ۰،۱۹۷ دی

چې وظیفوي رضایت سره مثبته اړیکه لري د بېلګې په توګه که د یو واحد په اندازه ترفیع سیاستونو کې زیاتوالی راشي نو په وظیفوي رضایت کې هم ۰،۱۹۷ په اندازه زیاتوالی راځي، د کاري محتوی ضریب ۰،۲۳۴ دی چې وظیفوي رضایت سره مثبته اړیکه لري یعنې د یو واحد کاري محتوی د زیاتوالی سره وظیفوي رضایت کې د ۰،۲۳۴ په اندازه زیاتوالی رامنځته کېږي، د نظارت کوونکو ضریب ۰،۱۸۷ دی چې د وظیفوي رضایت سره مثبته اړیکه لري یعنې د یو واحد په اندازه که نظارت کوونکو په کړنو کې زیاتوالی راشي نو وظیفوي رضایت کې هم د ۰،۱۸۷ په اندازه زیاتوالی رامنځته کېږي او د همکارانو ضریب ۰،۱۸۴ دی چې د وظیفوي رضایت سره مثبته اړیکه لري یعنې که د یو واحد په اندازه سره د همکارانو تر منځ ښه چلند او رویه زیاتوالی وکړي نو وظیفوي رضایت هم د ۰،۱۸۴په اندازه زیاتوالی کوي.

په پورتنیو جدولونو کې د افغانستان په امارتي ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو په رضایت باندې اغیز لرونکو عواملو اندازې ښودل شوي دي، پایلو کې په واضح ډول لیدل کېږي چې حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکی او همکاران د دندې رضایت باندې مثبت اغېز درلودلای شي، چې د نوموړو خپلواکو متحولینو پر اساس د کارکوونکو د دندې په رضایت کې غوره والی او بهتروالی لیدل کېږي. دا پدې معنا که چیرته د افغانستان اسلامي امارت ادارو کې د کارکوونکو په حقوقو او امتیازاتو، د کار محتوا او ترفیع کې بهتروالي راشي او د نظارت کوونکو او همکارانو ملاتړ زیات شي؛ نو یاد عوامل کولای شي چې د افغانستان اسلامي امارت په ادارو کې له دندو څخه د کارکوونکو د رضایت په کچه کې لوړولی راولي.

## مناقشه

د پورته مطالعاتو په نظر کې نیولو سره موږ ویلی شو چې حقوق او امتیازات، د کار محتوا، ترفیع، نظارت کوونکی او همکاران د کارکوونکو د دندې په رضایت باندې مثبت اغېز درلودلی شي. زموږ د څېړنې پایلې د ارزو مهرزاد او ملګرو (۲۰۲۱) څېړنې سره چې د افغانستان په دولتی سکتور کې د ښځینه کارکوونکو د دندې رضایت باندې څېړنه کړې ده او موندلې یې ښیې چې د ښځینه کارکوونکې د معاشونو زیاتوالي او د دندې ترفیع د دوي د دندې د رضایت اصلي عواملو په توګه ورته لومړیتوب ورکوي، تائیدوي اما پەدې څېړنه کې د ښځینه کارکوونکو برعلاوه نارینه کارکوونکې هم تر مطالعې لاندې نیول شوي دي. سربېره پر دې، احمد فرید د افغانستان په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې د کارکوونکو د دندې په رضایت باندې یوه څېړنه ترسره کړې ده چې پایله یې ښیې د کار شرایط، مزد او معاش او کاري چاپېریال د دندې په رضایت باندې اغېز لري.

حسیب الله عثماني په (۲۰۲۲) کې د افغانستان بانک د کارکوونکو په رضایت باندې څېړنه کړې ده پایله یې ښیي چې مزد او معاش او د دندې سطحه د بانک د کارکوونکو په رضایت باندې اغېز لرونکي عواملو په توګه پېژندل شوي دي. محمد مصدق او حسین یار محمدین یوه څېړنه ترسره کړې چې په کې یې معاش، کاري شرایط، ارتقاء او اړیکو سره لږ رضایت ښودل شوی وو او شغلي طبیعت، همکارانو او د نظارت شکل له اړخه یې ډېر رضایت ښودلی دی اما پەدې څېړنه کې معاش، ارتقاء، همکارانو او د نظارت کوونکو له اړخه کارکوونکې په منځیني ډول سره راضي وو. سمیټ، کېندال او هالین په ۱۹۶۹ زېږدیز کال کې وظیفوي رضایت لپاره د JDI موډل و ټاکه چې متحولین یې حقوق او امتیازونه، ترفیع، کاري محتوی، نظارت کوونکي او همکاران دي چې دغه متحولین زما د څېړنې نتایجو پر اساس هم وظیفوي رضایت لپاره ښه شاخص دی ځکه چې دغه متحولین ٪۷٦.۹ سلنه وظیفوي رضایت تشریح کوي، نو ویلی شو چې دغه پنځه متحولین د وظیفوي رضایت مثبت اغېز لرونکو عواملو په توګه پېژندل شوي دي، په دې معنا که چیرته په حقوق او امتیازونو، ترفیع او کاري محتوی کې بهتروالی رامنځته شي او نظارت کوونکو او همکارانو سره اړیکې او ارتباطات وساتل شي نو په دې سره په دولتی سکتور کې د دندې څخه د رضایت په کچه کې ښه والی رامنځته کېږي.

## پایله

د دې څېړنې له پایلو څخه دې نتیجې ته رسیږو چې حقوق او امتیازات، ترفیع، کاري محتوی، نظارت کوونکي او همکاران د کارکوونکو د دندې رضایت سره مثبته اړیکه لري، په نوموړو خپلواکو متحولینو کې بدلون د دندې د رضایت د بدلون سبب کېږي چې د نوموړو خپلواکو متحولینو په کمه اندازه بدلون سره د (R Square)کچه کې د ۰،۷۷۲ په اندازه بدلون رامنځته کېږي. نو په دې اساس ویلی شو چې د (β۱)،( β۲)، (β۳)،( β٤) او (β۵) ضریبونه مثبت عددونه دي، فلهذا حقوق او امتیازات، ترفیع، کاري محتوا، نظارت کوونکي او همکاران د کارکوونکو د دندې رضایت سره مثبته اړیکه لري.

## وړاندیزونه

۱. د افغانستان اسلامي امارت ته په کار ده چې د دولتي کارکوونکو د مزد او معاش په کچه کې بهتر والی رامنځته کړي او دحقوقو او امتیازونو لپاره یو سیستم جوړ کړی، ترڅو د کارکوونکو د دندو د رضایت کچه ور سره زیاته شي.

۲. د افغانستان اسلامي امارت ته په کار ده چې د دولتي کارکوونکو لپاره ارتقا او ظرفیت لوړونې ښه فرصتونه رامنځته او د هغې لپاره یو میکانیزم جوړ کړي، ترڅو د کار کولو مولدیت او د دندې رضایت ورسره زیات شي.

۳. د افغانستان اسلامي امارت ته په کار ده چې دولتي کارکوونکو لپاره د هغوی د کار او دندې اړوند وسایل او اسانتیاوې لکه: مناسب تجهیزات،کاري چاپېریال، د برق او انټرنیټ اسانتیاوې په کافي اندازه برابر کړي.

۴. د هرې اداري نظارت کوونکي باید له کارکوونکو سره غوره چلند وکړي ځکه کارکوونکي ټولنیز ارزښت ترلاسه کوي او نظارت کوونکو سره د موخو لاسته راوړلو کې مرسته کوي اوپه اړونده اداره کې د کارکوونکو د پاتې کېدو لامل ګرځي.

۵. د هرې دولتي اداري مشران باید د اړونده اداري کارکوونکو ترمنځ د ستونزو په حل کې د همکارۍ روحیه رامنځته کړي.

## سرچینی


Barnard, C. I. (1938). The functions of the executive. Cambridge, MA: Harvard University Press.

Chen, Yan, and Ingrid Smithey Fulmer. “Fine-Tuning What We Know about Employees’ Experience with Flexible Work Arrangements and Their Job Attitudes: Flexible Work Arrangements.” Human Resource Management, vol. 57, no. 1, Jan. 2018, pp. 1–15. DOI.org (Crossref), https://doi.org/10.1002/hrm.21849.

Davidescu, Adriana AnaMaria, et al. “Work Flexibility, Job Satisfaction, and Job Performance among Romanian Employees—Implications for Sustainable Human Resource Management.” Sustainability, vol. 12, no. 15, July 2020, pp. 1–53. DOI.org (Crossref), https://doi.org/10.3390/su12156086.

DeSantis, Victor S., and Samantha L. Durst. “Comparing Job Satisfaction among Public- and Private-Sector Employees.” The American Review of Public Administration, vol. 26, no. 3, Sept. 1996, pp. 327–43. SAGE Journals, https://doi.org/10.1177/027507409602600305.

Dodyal, P. M. (1396). Human Resource Management: Nangarhar. Yar Book Publisher.

Farid,A. Study of employee’s job satisfaction in ministry of industry and commerce. Bakhtar.educ.af

Farrell, D., & Stamm, C. L. (1988). Meta-analysis of the correlates of employee absence. Human Relations, 41(3), 211-227.

Heneman, H. G. I., Schwab, D. P., Fossum, J. A., & Dyer, L. D. (1983). Personnel/human resource management. Homewood, IL: Richard D. Irwin.

Iaffaldano, M. T., & Muchinsky, P. M. (1985). Job satisfaction and job performance: A meta-analysis. Psychological Bulletin, 97(2), 251-273.

Kahn, R. L., & Morse, N. C. (1951). The relationship of productivity to morale. Journal of Social Issues, 7, 8-17.

Katz, D., & Kahn, R. (1978). The social psychology of organizations. New York: John Wiley & Sons.

Khan, V., et al. “Impact of Organization Culture on the Job Satisfaction of the Employees (Banking Sector of Pakistan).” European Journal of Economics, Finance and Administrative Sciences, no. 35, Aug. 2011, pp. 7–14.

Khawrin, M. K., Tolossa, D. N., & Sahibzada, A. (2022). ASSESSMENT OF JOB SATISFACTION, WORKPLACE FLEXIBILITY, AND EMPLOYEES’BENEFITS: A SURVEY OF SELECTED PUBLIC UNIVERSITIES IN AFGHANISTAN. Towards Excellence, 14(1)

Lawler, E. E. (1994). Motivation in work organizations. New York: Jossey-Bass.

Locke, E. A. (1976). The nature and causes of job satisfaction. In M. D. Dunnette (Ed.), Handbook of
industrial and organizational psychology (pp. 1297-1349). Chicago: Rand McNally.

McNall, Laurel A., et al. “Flexible Work Arrangements, Job Satisfaction, and Turnover Intentions:The Mediating Role of Work-to-Family Enrichment.” The Journal of Psychology, vol. 144, no. 1, Nov. 2009, pp. 61–81. Taylor and Francis+NEJM, https://doi.org/10.1080/00223980903356073.

Mehrzad, Arezo, et al (2021). Job satisfaction of women employees of the public sector of Afghanistan. Emerald.com

Mitchell, T. R. (1979). Organizational behavior. Annual Review of Psychology, 30, 243-281

Mohammad Mosadegh Rad, Ali, and Mohammad Hossein Yarmohammadian. “A Study of Relationship between Managers’ Leadership Style and Employees’ Job Satisfaction.” Leadership in Health Services, vol. 19, no. 2, Jan. 2006, pp. 11–28. Emerald Insight, https://doi.org/10.1108/13660750610665008.

Shinwari, Jamshed. (2022). Job Satisfaction of Employees in the Private Sector of Kunar Province and its Effects on Employees Retention.

Spector, P. E. (1997). Job satisfaction: Application, assessment, cause and consequences. Thousand Oaks, CA: Sage.

Straub, D., Boudreau, M. C., & Gefen, D. (2004). Validation guidelines for IS positivist research. Communications of the Association for Information systems, 13(1), 24.

Wechsler, I. R., Kahane, M., & Tannenbaum, R. (1952). Job satisfaction, productivity and morale: A case study. Occupational Psychology, 26, 1-14.


Study Job Satisfaction of Employees in the institutions of the Islamic Emirate of Afghanistan


*1 Assistant Prof. Mohabbat Shah Mohabbat, 2 Assistant Prof. Imran Rafiq

1 Department of BBA, Faculty of Economics, Syed Jamaluddin Afghan University, Asadabad, Afghanistan

2 Department of BBA, Faculty of Economics, Syed Jamaluddin Afghan University, Asadabad, Afghanistan

WhatsApp: +93 777 720 710

*Email Address: mohabatshahm@gmail.com



**Abstract**

This study was conducted with the aim of identifying the factors affecting employees’ job satisfaction in the Emirate governmental institutions of Afghanistan. The main and fundamental objective of the research is to identify the factors that influence employees’ satisfaction in public sector institutions. To carry out the study, both primary and secondary data were collected. Primary field data were gathered from the provinces of Kunar, Nangarhar, Laghman, Kabul, and Maidan Wardak through a structured questionnaire. The questionnaire was distributed among 384 employees working in relevant provincial public universities, hospitals, departments of education, banks, Mustofiat (treasury departments), and several other governmental institutions, of which 371 valid questionnaires were received and analyzed. Secondary data were obtained through the review of books, articles, journals, and internet sources. The collected data were analyzed using SPSS version 25, applying Multiple Regression analysis. The results of the statistical analysis revealed that the outcomes of the t-statistics tests were significant. Moreover, the significance (Sig) value of the F-test was also significant at the 5% level, indicating that the applied model is appropriate. The findings of the study show that salary and benefits, job content, promotion opportunities, supervisors, and co-workers are significant factors influencing job satisfaction. These factors jointly explain approximately 77.2% of job satisfaction, while the remaining 22.8% is explained by other factors affecting employees’ job satisfaction.


Keywords: Public sector, employees, job, satisfaction, job satisfaction.

# د افغانستان د علومو اکاډمۍ له لوري «د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» تر عنوان لاندې جوړ شوي سیمینار کې د کار او ټولنیزو چارو د وزیر پیغام!

اعوذباالله من الشیطن الرجیم
بسم‌الله الرحمن الرحیم
وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ . صدق‌الله العظیم

د افغانستان د علومو اکاډمۍ رهبرۍ او ټولو منسوبینو، په سیمینار کې حاضرو د مختلفو ادارو درنو مسؤلینو، علمای کرامو، د علمي بنسټونو قدرمنو استادانو، ټولو محترمو ګډونوالو او د رسنیو قدرمنو استازو!

السلام علیکم ورحمة‌الله و برکاته.

تاسو ټولو ته د الله جل جلاله له سپېڅلي درباره د عافیت او روغتیا هیله مندي کوم، الله تعالی مو په ټولو اړوندو چارو او مسؤلیتونو کې بریالي لره او ستاسو د هر یوه هڅې دې د افغانستان او افغانانو د عزت، وقار، سرلوړۍ او پرمختګ لپاره د خیر سبب وګرځي. ډېر لېوال وم، چې تاسو سره مې په ننني پرتمېنه غونډه کې ګډون درلود او ستاسو نظریې، وړاندیزونه، مقالې او څېړنې مې اورېدلې وی، خو ځینو نورو مسؤلیتونو چې هغه هم هېوادوالو ته د خدمت موارد وو، اجازه او فرصت را نکړل، که وخت او ژوند وو په راتلونکې کې به ورته غونډو او ناستو کې له نږدې لیده کاته ولرو.

قدرمنو حضارو!

د اسلام مبارک دین د مسلمانانو د ژوندانه په ټولو برخو کې واضحه تګلارې او لارښودونه لري، که هغه د اخلاقو برخه ده، د اړیکو برخه ده، د تعلیم او تربیې موضوع ده او یا هم د ماشومانو د ساتنې، پالنې او د دوی د فکري او جسمي ودې موارد دي، چې په عملي کولو سره یې کېدلای شي هر مسلمان خپل د ژوندانه چارې تنظیم او هم خپل ماشومان داسې وروزي، چې هم له شرعي نظره یې مکلفیتونه او مسوولیتونه څرګند وي او هم دې په راتلونکې کې د یوه سالم او مسوول شخص په توګه د خپل دین، ټولنې او وطن مدافع او خادم و اوسي. که د ماشوم توب له مرحلې څخه لازمه پاملرنه موجوده نه‌وي؛ نو پایله به یې نامطلوبه او په راتلونکې کې مختلفې ستونزې او ناخوالې وي.

زموږ په ټولنه کې د ماشوم لپاره تر ټولو مهم چاپېریال د هغه کورنۍ ده او په دې برخه کې کورنیو ته ستر مسوولیت متوجه دی، ځکه له همدې ځایه ماشومان خپل د ژوندانه لومړي ګامونه اخلي او د تربیې او معنویاتو پړاو یې پیلېږي، په دې حساسه مرحله کې ماشومانو ته لازمه پاملرنه په حقیقت کې د هغوی په راتلونکې پانګونه ده. د کورنۍ چاپېریال دی چې ماشوم ته د شفقت، اړیکو، درناوي او تربیې زده‌کړې ورکوي او په دې مواردو یې سمبالوي.

د زده‌کړو د پیل پړاو یې بیا نو د حکومتونو په ځانګړې توګه د اسلامي نظام ستر مسوولیت او دنده ده، چې له همدې ځایه یې په فکري وده او سالمې مفکورې او تربیې کار وشي، مناسب او ځانګړی نصاب ورته چمتو شي او هم په یوه مناسب چاپېریال کې وروزل شي، ترڅو په راتلونکې کې د هغو معیارونو مطابق چمتو شي، کوم چې یې زموږ مبارک دین سپارښتنه کړې ده. که یادې دواړه مرحلې په همغږۍ او معقوله توګه ترسره شي؛ نو ټولنه به په راتلونکې کې له ناوتریخوالي، ستونزو او ناخوالو خلاصه وي.

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په دې برخو کې هڅې او اقدامات شوي او ورته پاملرنه شوې، خو لا ډېره پاملرنه او پانګونه به وکولای شي، چې په راتلونکې کې د افغانستان د ټولنې هر وګړی داسې وروزي، چې په عقیدوي، معنوي او ظاهري لحاظ مناسب او د اعتماد وړ شخص وي.

د سیمینار محترمو ګډونوالو!

د دې ترڅنګ چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له دې نوښت څخه مننه او قدرداني کوم او په دې برخه کې ورته د همکارۍ ډاډ ورکوم، مناسب یې بولم چې له ماشومانو څخه د ساتنې په برخه کې د یوه مسوول بنسټ په توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت له ژمنې څخه ډاډ ورکړم، چې په ټولو تقنیني او نورو اړوندو اسنادو کې به د افغانستان د هر ماشوم مصلحت، هوساینه، د ژوندانه د معیشت ښه‌والی او نورې اړتیاوې په پام کې نیسو او په دې برخه کې به له نورو ذیدخلو بنسټونو سره ګام په ګام پرمخ ځو او خپلو مسوولیتونو ته به متوجه یو. والسلام علیکم ورحمة‌الله و برکاته

الحاج ملا عبدالمنان عمري
د کار او ټولنیزو چارو وزیر

# عمده‌ترین فعالیت‌ها و دست‌آوردهای وزارت در سال ۱۴۰۴ هـ . ش

۱. ارائه‌ای آموزش‌های فنی و حرفوی مبتنی بر نیاز بازار کار برای ۱۳۳٦۵ تن کار آموز از طریق مراکز فنی و حرفوی امارتی و مؤسسات همکار؛

۲. توزیع۷۰۴۲ قطعه جواز کار برای کارکنان امارتی در مرکز و توزیع ۹۰۱۷ قطعه جواز کار برای کارکنان امارتی و سکتور خصوصی در ولایات؛

۳. توزیع ۱۴۷۲ قطعه جواز کار برای اتباع خارجی در مرکز و توزیع ۱۳۵ قطعه در ولایات.

٤. موافقه با شرکت بصیرت رهیاب جهت فعالیت و تمدید جواز شرکت خصوصی کاریابی بارور و توزیع ۱ قطعه جواز فعالیت مرکز آموزش‌های فنی وحرفوی برای مؤسسه صدف که در ولایت کنر فعالیت می‌نماید؛

۵. مطالبه گزارشات از چگونگی اجراآت فعالیت شرکت خدماتی کاریابی خصوصی داخلی و نظارت از ۱۱ شرکت خصوصی که در این شرکت‌ها ۲۳۲۵ تن از متقاضیان کار ثبت و راجستر گردیده بود و از آن جمله ۴۷۸ در ادارات خصوصی و مؤسسات استخدام گردیده اند؛

٦. به اساس پلان کاری، قوانین و مقررات مرتبط به کار و مطابق تقاضای ادارات و اشخاص جهت رفع معضلات ادارات و کارکنان ۴۱ مورد مشوره‌های کتبی و شفاهی ارائه گردیده است؛

۷. تدویر سومین جلسه شورای عالی کار به ریاست وزیر کار و امور اجتماعی و اشتراک نماینده‌گان اتحادیه‌های کارگر و کارفرما؛

۸. برای ۱۵۲٦۰ خانواده و اطفال در ولایت‌های پکتیکا، پروان، فراه و کندز برنامه‌های آگاهی دهی در رابطه حقوق اطفال از دیدگاه دین مبین اسلام، خطرات ناشی از کار اطفال، مهاجرت‌های غیر قانونی، خطرات ماین و علایم ترافیکی راه اندازی شده است؛

۹. رسیده‌گی به قضیه‌های محافظتی ۱۳۵۷ طفل پسر و ۴۱ طفل دختر در ١٦ ولایت؛

۱۰.ایجاد کمیته‌های محافظت اطفال در ولسوالی‌های فرزه و پغمان ولایت کابل؛

۱۱. ارائه خدمات خاص برای ۱۰ تن طفل معلول در مرکز حمایوی اطفال ولایت کابل؛

۱۲. نظارت مراکز خدمات کاریابی از چگونگی ارائه خدمات خاص برای اطفال معلول؛

۱۳. تدارک بودجه کمیته‌ای هم‌آهنگی با ۱۷ اداره امارتی، سازمان‌های ملی و بین المللی، نماینده‌گی‌های سیاسی و دیپلوماتیک و ارسال آن به ریاست کمیته‌ای تدویر کنفرانس ملی مصئونیت اجتماعی؛

١٤. تدویر جلسه کمیته‌ای تخنیکی و مسلکی تعیین و تثبیت بودجه غرض تدویر کنفرانس ملی مصئونیت اجتماعی با اشتراک ۳٦ اداره سکتوری و امارتی و ریاست‌های ذیدخل به اساس هدایت شفاهی مورخ ۳/۲۸ /١٤٤٧ مقام عالی ریاست الوزراء؛

۱۵. تدوین طرح بازاریابی برای اجناس تولیدی به‌منظور خودکفائی مراکز آموزش‌های فنی و حرفوی امارتی و به نمایش گذاشتن محصولات این مراکز در نمایشگاه سه روزه‌ی که در تالار خیمه لویه جرگه تدویر یافته بود؛

۱٦. ثبت (دیتاانتری) معلومات جمع آوری شده در مورد خدمات نیاز جامعه از مرکز و ولسوالی‌های ۳۴ ولایت کشور؛

۱۷. جمع آوری ۴۳٦۲ قطعه پرسش‌نامه پیرامون رشته‌های تحصیلی، ۲۷۱۲ قطعه پرسش‌نامه درمورد حرفه‌های نیاز بازار کار و ۴۹۵۴ قطعه پرسش‌نامه پیرامون خدمات مورد نیاز جامعه از تمامی ولایات افغانستان؛

۱۸. استخراج فریکونسی (تعداد فیصدی)، ترسیم گراف‌ها و جدول‌ها و تهیه‌ی راپور تحلیلی در مورد بخش‌های خدمات مورد نیاز جامعه، رشته‌های تحصیلی و حرفه‌های مورد نیاز بازار کار؛

۱۹. از ۹۰ بست خالی که از شرکت تایم افگانو بدست آمده بود برای آن ۳۲۸ متقاضی کار جهت امتحان و نیز استخدام در بست‌های یاد شده معرفی گردید و نیز برای ۵۰ بست بازاریاب و فروشنده مرکز تجارتی نوری ۵۱ تن متقاضی به شرکت یاد شده معرفی گردیده است؛

۲۰. تمدید سه قطعه جواز شرکت‌های خصوصی کاریابی المهاجر، آرین افغان و الفلاح.

۲۱. نهائی سازی طرح ابتدائی ۷ سند تقنینی ( قانون امور اجتماعی، قانون حمایت از حقوق طفل ، قانون سرپرستی اطفال ، قانون منع خشونت ، مقرره شیر خوارگاه‌ها و کودکستان‌ها و مقرره پرورشگاه‌ها) و ارسال آن به وزارت‌ها و ادارات ذیربط امارتی و غیر امارتی جهت ابراز نظر و آغاز مرحله تخریج سندهای تقنینی یاد شده؛

۲۲. ارزیابی دوران وظیفه، پول کرایه، سفریه، ترفیع، تبدیلی ،تقاعد و فسخ قرار داد در ٦٠ قرارداد کار و تثبیت ۵۰ معیار مختلف مربوط به امور کاری نهادهای مختلف؛

۲۳. تعیین امتیاز کار شبانه، شفت‌های کار، آغاز و ختم کار هر شفت و منع کار در دو شفت مسلسل و ارائه معلومات حد اقل مزد به برخی نهادهای امارتی و خصوصی؛

۲٤. تأیید ٦٠ مورد قرارداد کار نمونوی مربوط به شرکت‌ها، فابریکات و مؤسسات؛

۲۵. بازدید از ۲۰ شرکت و فابریکه تولیدی و ارائه معلومات در رابطه به ترتیب لوایح رشتوی داخلی طرق عملی ایمنی، البسۀ کار و وسایل تحفظی به آن‌ها؛

۲٦. همکاری در ترتیب لوایح مصؤنیتی، البسۀ کار و وسایل تحفظی ولایات بغلان و بلخ .

۲۷. ارسال کتاب رهنمود نمونوی رشتوی داخلی حفاظت کار و طرق عملی ایمنی، لایحه‌ای رهنمود البسۀ کار و وسایل تحفظی، تصدیق آموزش تخنیک بی‌خطر و فورم ثبت حوادث ناشی از کار به ۳۵ اداره امارتی و خصوصی مرکز و ولایات؛

۲۸. طی مراحل، تأیید و منظوری ۱۵ لایحه‌ای اختصاصی مواصلت یافته و ارسال آن به نهادهای مربوطه؛

۲۹. به منظور جلو گیری از شیوع امراض در ساحه‌ای کار؛ ارسال فورم جهت جمع آوری، فهرست و تشریح خصوصیات و مشخصات شغل‌های که باعث امراض حرفوی می‌گردد به ۸ هشت اداره امارتی و غیر امارتی؛

۳۰. بازدید از ۱۰ فابریکه تولیدی، صنعتی وخدماتی و تأکید بر عدم استخدام اطفال در کارهای شاقه؛

۳۱. ارسال مکاتیب لست مشاغل پر خطر و بدترین اشکال کار اطفال و طرزالعمل استخدام نوجوانان زیر سن در مشاغل پر خطر، غرض جلوگیری از استخدام اطفال و نوجوانان در مشاغل مندرج آن به ۱۰ اداره امارتی و غیر امارتی؛

۳۲. از اثر بررسی ۴۳۷ اداره ۸۲۲۴ تن اتباع داخلی و ۲۷٦ تن اتباع خارجی فاقد جواز کار شناسایی و غرض اخذ جواز به ریاست عمومی قوای بشری معرفی گردیده اند؛

۳۳. حمایت و مراقبت از ۷۰۰ صد تن طفل معروض به خطر در مراکز حمایوی که از سوی کمیته جمع آوری گداها و حوزه‌های امنیتی پولیس شهر کابل معرفی گردیده است؛

۳٤. توزیع کمک مواد غذائی به ۳۳٦۸۳ خانواده بی‌سرپرست و بی بضاعت، توزیع مواد نقدی به ۴۹۱۹۹ خانواده نیازمند و توزیع مواد غیر غذایی به ۱۷۳۷۲ خانواده در همکاری با ۴۲ مؤسسه همکار در ولایات (میدان وردک، سمنگان، سرپل، کاپیسا، بلخ، جوزجان، بامیان، پکتیا، دایکندی، بغلان، لوگر، تخار، کندز، پکتیکا، بادغیس، کنر، پنجشیر ، ارزگان ، هلمند و غور)؛

۳۵. نظارت از جریان سروی و توزیع مساعدت‌های ( نقدی، مواد غذائی و غیر غذائی) برای ۳۷۰۰ خانواده فقیر و بی‌بضاعت در نواحی مختلف شهر کابل؛

۳٦. ادغام ۲۳۵۲ طفل در معرض خطر، قاچاق شده، رد مرزی و اطفال که در مرکز اصلاح و تربیت دوره حجز شان تکمیل شده است، با خانواده‌های‌شان در مرکز و ولایات؛

۳۷. تحقیق اجتماعی از وضعیت زنده‌گی چهار فامیل در نواحی مختلف شهر کابل به منظور سرپرستی گرفتن اطفال؛

۳۸. معرفی ۵۲٦ تن معتاد صحت یاب شده به مراکز فنی و حرفوی جهت در یافت آموزش.

۳۹. ارائه خدمات و سهولت‌های لازم برای ۲۴۴ تن اطفال واجد شرایط در پرورشگاه تهیه مسکن و ۲۰۵ تن طفل اناث در روزنتون اناثیه؛

٤۰. بازنگری ۲۳٦ بست ریاست‌های مرکزی وزارت از سوی کمیته بازنگری لوایح وظایف و درج آن در سیستم (CPAMIS)؛

٤۱.تطبیق سیستم برقی توزیع جواز کار اتباع داخلی در ولایت‌های بدخشان، تخار، کندز و بغلان؛

٤۲. به اساس حکم شماره ۲٥٤٠ مورخ ١٤٤٥/٥/١٩ مقام عالی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان تمام سیستم‌های الکترونیکی در هم‌آهنگی با وزارت محترم مخابرات و تکنالوژی طراحی و ایجاد می‌گردد که برخی سیستم‌های اداری فعال و در

اختیار ریاست‌های مربوطه قرار گرفته است؛
٤٣. ارائه معلومات به ۵۵۰ تن کارمند در مرکز و ۳۰۰ تن در واحدهای دومی در مورد شعایر و دساتیر دین مبین اسلام؛
٤٤. تدریس قانون امر بالمعروف و نهی عن المنکر به کارمندان وزارت؛
٤٥. تدویر ١٦ برنامه مختلف دینی ( وحدانیت خداوند جل جلاله ، فضایل نماز با جماعت و تقوا ) در تالار مسجد وزارت برای سایر کارمندان؛
٤٦. طرح و تدویر سه برنامه آگاهی دهی ( اسراف، پابندی به وقت و حقوق همسایه در پرتو و روشنی قرآن عظیم شأن و احادیث نبوی برای کارمندان واحدهای مرکزی و دومی؛
٤٧. ارائه معلومات پیرامون منکرات از دید شرعیت غرای محمدی ( اسراف برق و آب ، قمار، رشوت و تراشیدن ریش )؛
٤٨. عقد تفاهم‌نامه‌های همکاری با هفت مؤسسه خارجی در بخش‌های فن و حرفه ، محافظت اطفال ، روزنتون‌ها و تأمینات اجتماعی؛
٤٩. مجله شماره ۳۰ کار و اجتماع پس از جمع آوری مطالب، روخوانی، تدقیق، تصحیح، دیزاین و چاپ گردیده است و همچنان به ریاست‌های مرکزی، واحدهای دومی، ولایتی و سایر نهادهای امارتی و خصوصی توزیع گریده است؛
٥٠. پروسۀ نصب اعلانات اشتهارات وزارت کار و امور اجتماعی در بخش‌های توزیع جواز کار، تفتیش و رهنمایی کار، روزنتون‌ها، آموزش‌های فن و حرفه، اطفال مفقود شده در کابل و شش زون کشور، بنادر زمینی و شاهراه‌های کشور جهت آگاهی‌دهی به مردم نصب گردیده است؛
٥١. نظارت از روند کاری و تطبیقی (استراتیژی‌ها، پالیسی‌ها و پلان‌های کاری منظور شده) یازده واحد ولایتی (بامیان، غور، دایکندی، ننگرهار، کنر، نورستان، لغمان، لوگر، خوست، پکتیا و پکتیکا) و نظارت از روند تطبیق پلان‌ها و روند کاری ریاست‌های مرکزی و واحدهای دومی؛
٥٢. بررسی امور مالی، حسابی و اداری ریاست‌های کار و امور اجتماعی ولایات (هلمند، ارزگان، هرات، بادغیس، ننگرهار، کنر، نورستان، نیمروز و فراه) صورت گرفته است.
٥٣. نیاز سنجی آموزشی تعداد۳۲۴۷ تن کارکنان ادارات امارتی مرکز و ولایات به شرح ذیل صورت گرفته است:
- ۵ عنوان برنامه آموزشی برای کارمندان، آموزگاران، استادان و مربیان طرح و تدوین گردیده است؛
- ۲۵۷ تن از کارمندان وزارت کار و امور اجتماعی و وزارت‌ها، ادارات امارتی در مرکز و ولایات از برنامه‌های ارتقای ظرفیت مستفید گردیده اند؛
- تدویر ۲۰ برنامه آموزشی برای ۸۹۹ تن کارکنان در وزارت کار و امور اجتماعی و سایر وزارت‌ها در مقر انستیتوت این وزارت؛
- تدوین ۱۰ عنوان معیار کیفیت مهارت‌های شغلی و ۱۰ عنوان نصاب آموزشی آموزش‌های فنی و حرفوی از سوی انستیتوت این وزارت؛
- راه اندازی نشست‌های مشوره دهی در رابطه به آگاهی از وضعیت اطفال مطابق به نصاب و مواد تدریسی برای معلمین و کارمندان ریاست عمومی حمایت از حقوق اناثیه.

٥٤. ثبت و راجستر ٦ تن از اناث آسیب پذیر و ادغام مجدد ٦ تن از اناث آسیب پذیر به خانواده‌ها و رسیده‌گی به امور حقوقی تعداد ۱۵ تن از اناث آسیب پذیر در مرکز؛
٥٥. ارائه مشوره‌های حقوقی بر مبنای شریعت اسلامی برای تعداد (۳۵) سی و پنج تن از خانم‌های آسیب پذیر در مرکز حمایوی پیرامون موضوعات (طلاق و عواقب آن، تشویق اناث جهت برگشت دوباره به خانواده‌های شان، رعایت حقوق خانواده و حقوق زوجین طبق قانون و شریعت، فسخ نامزدی و خلع، مسایل دینی و اخلاقی، آداب معاشرت، تغییر سالم در اذهان، تشویق به کارهای نیک و شایسته، منع از کارهای خلاف و غیر اخلاقی)؛
٥٦. ثبت و راجستر تعداد ۸۴۴ تن افراد اهل حرفه در حرفه‌های مختلف در ولایات؛
٥٧. جمع آوری معلومات ١٦ هزار تن از مجاهدین معلول، تعین و انتخاب حرفه‌ها برای تعداد ۵۲۰۰ تن از مجاهدین معلول که توانائی آموزش حرفه را دارد که این پروسه در کابل آغاز شده است؛
٥٨. ایجاد زمینه ارائه آموزش‌های فنی و حرفوی برای معتادین صحت یاب شده در هشت ولایت ( کابل، هرات، بلخ، کندز، کندهار، ننگرها، پکتیا و هلمند)؛
٥٩. معرفی ۹ تن معتاد که ازجمله یک تن کارمند بوده به شفاخانه‌های مربوطه؛
٦٠. استخدام و تقرر ۵۲ تن در بست‌های مختلف وزارت در مرکز و ۲۵ تن در ولایات؛
٦١. تدویر برنامه سواد آموزی ۹ ماهه برای ۳۰ تن کارکنان بست‌های ۷ و ۸ مرکز وزارت.

# فعالیت‌های عمدۀ ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث در سال ۱۴۰۴ هـ . ش

**مقدمه**

زن در آموزه‌های قرآن‌کریم موجودی مستقل، صاحب کرامت و دارای حق انتخاب معرفی شده است. آیه شریفه‌ای «وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ» (اسراء: ۷۰) کرامت انسانی را شامل زن و مرد هر دو می‌داند، و آیه‌ای «وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ» (توبه: ۷۱) آیه فوق زنان و مردان مؤمن را یاران و حامیان یک‌دیگر معرفی می‌کند، این نگاه قرآنی زن را نه موجودی فرعی بلکه رکن اساسی جامعه می‌داند.

رسول اکرم صلی الله علیه و سلم نیز در آغاز رسالت خویش با ریشه کن کردن رسم جاهلیت، بر ترک گناه و منع قتل دختران تأکید فرموده و با حدیث «خَيرُكم خيرُكم لنسائكم وَ بَناتكم» (مستدرک حاکم) ترجمه: بهترین شما کسانی اند که برای زنان و دختران خود بهترین باشند. هم‌چنین با فرموده‌ای «فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ» (صحیح مسلم) ترجمه: بترسید از الله متعال در مورد زنان. احادیث متبرکه فوق بر مراقبت و حمایت از اناث به عنوان یک وجیبه‌ای دینی تأکید نموده. این احادیث نشان می‌دهد که حمایت از اناث نه تنها وظیفه‌ای اخلاقی بلکه وجیبه‌ای دینی و شرعی هر فرد مسلمان می‌باشد.

**عرصه‌های حقوق اناث در شریعت اسلامی**

اسلام به عنوان کامل‌ترین دین الهی، حقوق اناث را در ابعاد مختلف تضمین کرده است:

حقوق خانواده‌گی: حق مهریه، نفقه و احترام متقابل در زنده‌گی مشترک؛

حقوق اجتماعی: حق آموزش، کار و مشارکت در جامعه مطابق ضرورت و در چوکات شریعت اسلامی؛

حقوق قضایی: حق شهادت، حق مالکیت و حق دفاع از خود.

**حمایت از آسیب‌پذیران**

رسیده‌گی به بیوه‌ها، یتیمان و نیازمندان به عنوان وظیفه‌ای اصلی جامعه اسلامی.

زن به عنوان مادر، مربی و شریک اجتماعی نقش اساسی در تربیت نسل‌های آینده ایفاء می‌کند. بنابر این حمایت از او در حقیقت حمایت از آینده‌ای جامعه است، آموزش و توانمند سازی اناث بر اساس فرموده‌های کتاب الهی و احادیث نبوی صلی الله و علیه و سلم یک امر انکار ناپذیر است چنانچه الله متعال می‌فرماید: «هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ»(سورۀ زمر آیه ۹) ترجمه: آیا برابر اند کسانیکه می‌دانند و کسانیکه نمی‌دانند؟ آیه‌ای فوق ارزش علم و آموزش را برای همه انسان‌ها، زن و مرد، بیان می‌کند.

پیامبر اکرم صلی الله و علیه و سلم نیز فرموده اند: «طَلَبُ العلمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِم» (سنن ابن ماجه) ترجَمه: طلب علم بر هر مسلمان، زن و مرد فرض است. بناءً فراگیری علم و دانش فریضه‌ای دینی و یک ضرورت اجتماعی و اقتصادی زنان است، زیرا توسط آن کرامت انسانی آنان حفظ گردیده، استقلال و عدالت اجتماعی افزوده شده و راه توسعه پایدار را برای‌شان هموار می‌سازد.

ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث به عنوان نهاد مرکزی، مأموریت بزرگ پاسداری از کرامت انسانی، تحقق عدالت اجتماعی و توانمندسازی اناث و اطفال را بر عهده دارد. این ریاست با تدوین و تطبیق پالیسی‌ها و برنامه‌های جامع زمینه‌ای رشد اقتصادی، آموزشی، فرهنگی و اجتماعی اناث را در سطح مرکز و ولایات فراهم ساخته، با مدیریت مدبرانه، نظارت دقیق و انسجام همه جانبه وظایف خویش را در راستای حمایت از حقوق شرعی و قانونی اناث ایفاء می‌نماید و با توانمندسازی آنان نه تنها به رشد فردی اناث کمک کرده بلکه مسیر توسعه‌ای پایدار و عدالت اجتماعی را برای همه جامعه هموار می‌سازد و چراغ روشن است برای تحقق این اهداف والا، چراغی که روشنایی آن مسیر عدالت، کرامت و پیشرفت جامعه اسلامی را نورانی می‌سازد.

**ساختار تشکیلاتی، وظایف اساسی و دست آوردهای ریاست‌های تحت اثر ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث**

ریاست عمومی دارای آمریت‌های مرکزی و ولایتی و ریاست‌های متعدد بوده که هر یک مطابق به اهداف و پالیسی‌های وزارت محترم کار و امور اجتماعی، وظایف مشخص و اساسی خود را به عهده دارند.

**آمریت‌ها**

آمریت مشاوریت برای تحلیل قوانین و طرح نصاب‌های آموزشی، آمریت تفتیش داخلی برای شفافیت مالی و اداری، آمریت نظارت و ارزیابی برای تطبیق پلان‌ها و پالیسی‌ها، آمریت دفتر برای تنظیم مکاتیب و فرامین، آمریت پلان و پالیسی برای طرح استراتیژیک، آمریت امور دینی و عنعنوی برای هدایت معنوی.

**ریاست‌ها**

ستون‌های اصلی این نهاد، شش ریاست تخصصی است که هر یک با اهداف بزرگ و رسالت مشخص در مسیر تطبیق احکام الهی، امر بالمعروف و نهی عن المنکر، جلوگیری از ظلم، رشد اقتصادی و اجتماعی اناث به ویژه اناث که نیازمندی‌های شان بیشتر بوده و مراقبت از اناث آسیب پذیر و اطفال یتیم و بی‌سرپرست، نقش حیاتی دارند.

ریاست‌های شش‌گانه در حقیقت پایه‌های استوار ریاست عمومی اند که با انسجام و هم‌آهنگی همیشگی اهداف بزرگ این نهاد را تحقق می‌بخشند.

**ریاست روزنتون اناث**

این ریاست یکی از ریاست‌های مهم است که مسوولیت رهبری، انسجام و تطبیق پالیسی‌ها و برنامه‌های روزنتون‌های اناث را در سطح کشور بر عهده دارد. این ریاست با نظارت همه جانبه امور تعلیمی، تربیتی، دینی، فرهنگی و حرفوی اطفال یتیم و بی‌سرپرست را در مرکز و ولایات سروسامان می‌دهد.این ریاست بر علاوه از مدیریت روزمره وظیفه‌ای ایجاد هم‌آهنگی میان روزنتون‌های مرکز و ولایات را بر عهده داشته و زمینه‌ای رشد و شگوفایی نسل آینده را در سراسر کشور فراهم می‌سازد. این ریاست به مثابه چراغ هدایت در مسیر تعلیم و تربیت اطفال یتیم و بی‌بضاعت، نقش بنیادی در تحقق اهداف وزارت کار و امور اجتماعی دارد که در حال حاضر به تعداد ۱۸۸ تن اطفال اناث یتیم، بی‌سرپرست و معیوب را در مرکز و به تعداد ۱۳۸۳ تن اطفال یتیم و بی‌سرپرست را در روزنتون‌های ۲۰ ولایت تحت حمایت و نگهداری قرار داده است. در این اواخر یکی از دست‌آوردهای مهم این ریاست، فارغ شدن ۱۴ تن اطفال اناث آموزش دیده از دوره ختم قرآن‌کریم می‌باشد که بیانگر تلاش دلسوزانه و تعهد صادقانه‌ای کارمندان در انجام وظایف به حساب می‌رود. این موفقیت‌ها نشان می‌دهد که روزنتون اناث تنها یک نهاد حمایتی نبوده بلکه کانونی برای تربیت، آموزش و توانمندسازی اطفال اناث و دختران کشور است، مرکزی که امید و آینده‌های روشن را برای نسل نوین رقم می‌زند.

**ریاست امور حقوقی و حمایوی اناث آسیب‌پذیر**

این ریاست به مثابه سپر حمایوی و پناه‌گاهی قانونی برای اناث آسیب‌پذیر عمل می‌کند. تحقق عدالت شرعی و قانونی، حمایت از اناث بی پناه، نظارت بر قوانین و ارائه‌ای مشوره‌های حقوقی از وظایف عمده این ریاست می‌باشد. در حال حاضر ۷۶ تن اناث آسیب‌پذیر همراه با ۸ کودک آنان در مرکز حمایوی این ریاست نگهداری می‌شوند.

**ریاست کودکستان‌ها**

این ریاست با مدیریت و سازمان دهی کودکستان‌های محلات زیست و کار، نقش

کلیدی در پرورش نسل آینده ایفاء می‌کند. دست‌آوردهای مهم این ریاست عبارت اند از: مراقبت از ۱۴۴۳ طفل در کودکستان‌ها و ۹۲۷ طفل در شیرخوارگاه شهر کابل، اصلاح نصاب آموزشی، آموزش علوم القرآن و مسائل دینی برای ۱۱۹۵ تن از معلمین کودکستان‌ها و آگاهی دهی به ۲۴۴۹ والدین اطفال شامل در کودکستان‌ها.

**ریاست تنظیم فعالیت‌های اناث**

این ریاست ستون مالی و اداری اداره محسوب می‌شود. با مدیریت شفاف و نظارت دقیق، دست‌آوردهای مهم چون جمع‌آوری ۸,۲٦۷,۳۰۰ افغانی از فیس کودکستان‌ها، تحقق عواید ۱۰٪ بیشتر از پلان، اجرای حقوق و تقاعد کارمندان و استخدام نیروهای جدید کاری که در طول سال جاری از تشکیل ۱۳۰٦ نفری در مرکز به تعداد ۱۲۷۵ تن تعیین بست گردیده و در بست‌های اداری تقرر حاصل نموده اند.

**ریاست آموزش های فنی و حرفوی**

این ریاست چراغی فروزان در مسیر مهارت آموزی و توانمندسازی اقتصادی اناث است. آموزش ۴۹۷ تن در حرفه‌های مختلف هم‌چون (خیاطی، بافت، گلدوزی، دست‌دوزی، مهره بافی و قالین بافی)، تدویر نمایشگاه تولیدات اناث در کابل، فراهم‌سازی زمینۀ اشتغال، تهیه و ترتیب طرح پیشنهادی جامع برای انکشاف صنوف حرفوی از جمله دست‌آوردهای مهم و برجسته آن می‌باشد.

**ریاست رشد اقتصادی اناث نیازمند**

این ریاست با هدف توانمندسازی اناث نیازمند و افزایش سهم آنان در اقتصاد ملی فعالیت می‌کند. شناسایی ۲٦ زن متشبث و نیازمند، تنظیم فعالیت‌های آنان در چوکات شریعت اسلامی و فراهم سازی زمینۀ آموزش و عرضه تولیدات در بازار، از جمله اقدامات مهم این ریاست به‌حساب می‌رود.

**معرفی مختصر بخش‌های کلیدی ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث**

**کمیته اصلاحی**

در ساختار ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث، کمیته اصلاحی جایگاهی ویژه، بنیادی و کلیدی دارد. این کمیته در رأس کمیته‌های موجود قرار داشته و نماد التزام به عدالت و اخلاق اسلامی است. فعالیت‌های آن بر اساس آیات متبرکه و احادیث نبوی صلی الله علیه و سلم هم‌چون امر بالمعروف و نهی عن المنکر سروسامان می یابد.

﴿وَإِذْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ﴾ (آل عمران: ۱۸۷)

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالقِسطِ...﴾ (النساء: ۱۳۵)

﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ﴾ (نحل: ۹۰) و حدیث شریف: «إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلَاقِ».

این بخش با رسالت اصلاح عقیده، تقویت ایمان، اصلاح اعمال و اخلاق، پایداری بر احکام شریعت اسلامی و رشد آموزه‌های دینی به عنوان یک ساختار مشورتی، هدایت‌گر و نظارتی تشکیل شده است. این کمیته با اتکاء بر اساسات دینی وظیفه دارد تا کاستی‌ها را شناسایی، عملکردها را اصلاح و ارزش‌های دینی را تقویت نماید.

**اهداف و اصول کمیته اصلاحی**

رعایت و حفظ حجاب اسلامی؛
تطبیق عدالت و انصاف؛
اخلاص در نیت و عمل؛
شفافیت و صداقت در امور اداری و اجتماعی؛
احترام به کرامت انسانی و حفظ احترام متقابل؛
همکاری و مشوره دهی؛
نشر دین مبین اسلام بر مبنای دعوت به معروف و نهی از منکر؛
اصلاح ساختار و رفتارها در چارچوب عدالت و تقوا؛
جلوگیری از فساد اداری، ظلم و انحرافات اخلاقی؛
ترویج فرهنگ اخلاق کاری و پاسخگویی؛
ایجاد فضای امن برای بیان مشکلات و رسیده‌گی به شکایات؛
نظارت بر اجرای اوامر الهی در چارچوب شریعت اسلامی.

در حقیقت کمیته اصلاحی ستون معنوی اداره‌های مسوول را تشکیل می‌دهد که برنامه‌های اصلاحی را طرح و تدوین نموده و آمریت امور دینی و عنعنوی تطبیق کنندۀ آن در مراکز علمی به ترتیب ذیل می‌باشد:

مرکز علمی ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث؛
مرکز علمی ریاست روزنتون اناث؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست الفتح؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست مکروریان اول؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست تهیه مسکن؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست پروژه وزیر آباد؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست خوشحال مینه؛
مرکز علمی کودکستان محل زیست نمبر یک خیر خانه.

آمریت امور دینی و عنعنوی وظیفه دارد نکات عمده‌ای امور دینی را با عنعنات جامعه پیوند دهد، عنعنات ناپسند را تشخیص و رفع نماید، آموزش‌های دینی و فرهنگی را برای کارمندان تحت اثر ریاست عمومی فراهم سازد. دست‌آورد این دو بخش (کمبته اصلاحی و آمریت امور دینی) در طول سال جاری عبارت اند از:

بالا بردن سطح آگاهی ۱۲۲۸ تن کارمندان تحت اثر ریاست عمومی در ۸ مرکز علمی در بخش‌های احکام شریعت اسلامی؛
آگاهی‌دهی به ۵۲ تن اناث آسیب‌پذیر در زمینه‌های دینی و اخلاقی؛
آموزش‌های دینی برای ۲۱۲ تن اطفال روزنتون به‌منظور تربیت اسلامی و اخلاقی نسل آینده.

کمیته تعیینات در ساختار ریاست عمومی حمایت از حقوق اناث کمیته تعیینات نیز یکی از کمیته‌های مهم و کلیدی به‌شمار میرود که مأموریت بزرگ و حساس آن در عرصه‌ای تشخیص افراد مسلکی، متخصص، کارفرما و با تجربه را در مطابقت با احکام شریعت اسلامی و قوانین نافذه کشور بر دوش دارد. این کمیته با رویکردی مبتنی بر عدالت، شریعت و قانون مسوولیت دارد که:

شناسایی افراد شایسته و معرفی آنان برای بست های اداری؛
برگزاری جلسات منظم جهت بررسی موضوعات مختلف مرتبط با تعیینات.؛
پیشنهاد افراد واجد شرایط به مقام محترم وزارت برای انتصاب در بست‌های مورد نظر؛
ایفای نقش مؤثر در حل اختلافات استخدامی و ایجاد فضای عادلانه در روند استخدام.

فعالیت‌های عمده‌ای این کمیته از آغاز تا اکنون عبارت اند از:

برگزاری ۱۸ جلسه در موضوعات مختلف؛
انتخاب و تعیین بست ۲۲۰ کارمندان در بست‌های اداری؛
حل اختلافات استخدامی و ایجاد زمینه‌ای شفافیت و عدالت در روند استخدام.

کمیته تعیینات به عنوان یک کمیته اساسی و معتبر در کنار کمیته اصلاحی جایگاه ویژه‌ای در ساختار ریاست عمومی دارد. ریاست هر دو کمیته به رهبری مستقیم رییس عمومی حمایت از حقوق اناث صورت می‌گیرد که با مدیریت مقتدرانه بر حسن اجرای وظایف و تحقق اهداف نظارت کامل دارد.




# د هلمند ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست عمده فعالیتونه

• د هلمند ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست د ۱۴۰۴هـ ش مالي کال تر دریېمې ربعې پورې (۱۳۹۵) هغو کسانو ته چې د بکلوریا، فوق بکلوریا او لېسانس تر کچې پورې زده کړې یې لرلې او په خصوصي سکتور کې یې کار کاوه، د کار جوازونه ووېشلي دي؛

• ۱۶۲ تنه زده کړیالانو د نلدوانۍ، د تعمیراتو رنګمالۍ، د تعمیراتو برېښنا او موبایل ترمیم له حرفو څخه فراغت حاصل کړی دی او د نوې دورې لپاره هم ۱۲۰ تنه زده کړیالان جذب شوي دي، چې د زده کړو بهیر یې روان دی؛

• د کار او ټولنیزو چارو ریاست په همغږۍ د ډاکار همکارۍ موسسې له لوري ۴۱۷ تنه اشخاص له اعتیاد څخه رغول شوي چې له دې ډلې څخه ۱۴۹ تنه په پنځو حرفو؛ واسکټ جوړونې، د زرنجو ترمیم، یخچال او ایرکنډیشن ترمیم او د سولري سیستم برېښنا په برخو کې جذب شوي دي. پاتې نور اشخاص به د دې دورې تر فراغت وروسته په یادو پنځو حرفو کې جذب شي؛

• د کار او ټولنیزو چارو ریاست له لوري د (CHA ) همکارۍ موسسې ته ۲۸۷ تنه بېوزله اشخاص معرفي شوي دي، چې ۸۴ تنه یې د هلمند ولایت په نوزاد او موسی قلعې ولسوالیو کې په څلورو حرفو؛ د موټرسایکل جوړونې، سولري سیستم، مبایل ترمیم، خیاطۍ او لاسي صنایعو برخو کې جذب شوي دي چې دا مهال یې د زده کړو بهیر روان دی او له فراغت وروسته به پاتې نور اشخاص زده کړو ته جذب شي؛

• د کار او ټولنیزو چارو ریاست وتوانېد چې له ایران او پاکستان هېوادونو څخه ۱۹۷ تنه رد مرزي شوي ماشومان بېرته خپلو کورنیو ته وسپاري؛

• د کار او ټولنیزو چارو ریاست د هیرو او ویرو موسسې په مرسته د هلمند ولایت نهر سراج، سنګین، موسی قلعه، نوزاد، باغران په ولسوالیو کې (۷۵۰) اړمنو او بېوزلو کورنیو ته چې هرې کورنۍ ته په ورځ کې (۱۴) پخې ډوډۍ دي وېشي؛

• هلمند ولایت په بهرامچې ولسوالۍ کې د کار او ټولنیزو چارو ریاست په همغږۍ د (KRO) همکارۍ موسسې له لوري له نویو راستانه شویو کډوالو سره ۱۰۰ ژمنیو جامو او له ۱۳۰ کورنیو سره د ۲۰۰ کمپلو مرسته شوې ده؛

• د ذکورو او اناثو په روزنتونونو کې د روزنتون د کړنلارې پر بنسټ ۲۰۰ تنه ذکور او ۹۰ تنه اناث بی سرپرسته او یتیم ماشومان جذب شوي چې د یادو ماشومانو لپاره په روزنتونونو کې د ښوونې، روزنې او اعاشې بهیر په نورمال ډول روان دی. همدارنګه دیادو ماشومانو لپاره د یخنۍ او ګرمۍ په موسمونو کې ټول امکانات او لازم تدابیر پر خپل وخت ترسره کېږي. سربېره پر دې ۱۹۴ تنه ماشومان په وړکتونونو کې شامل شوي دي؛

• د کار او ټولنیزو چارو ریاست په همغږۍ د (KRO) موسسې له لوري د هلمند ولایت اوو ولسوالیو: نهر سراج، ګرشک، کجکي، موسی قلعه، بهرامچه، نوزاد او لښکرګاه کې ۳۰ د ماشومانو حمایوي مرکزونه جوړ شوي دي، په یادو حمایوي مرکزونو کې ۱۵۰۰ ماشومانو ته ابتدایي زده کړې ورکول کېږي او همدارنګه ۲۰۰ تنه ځوانانو ته د خیاطۍ، موبایل ترمیم، د موټرو ترمیم، کمپیوټر او سولري سیستم په حرفو کی مسلکي زده کړې ورکول کېږي. سربېره پر دې، کورنیو ته د ماشوم ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي پروګرامونه هم دایرېږي.

# په ټولنه کې د خلکو لپاره د کاري زمینو رامنځته کول



لیکنه: محمد عیسی مبارز

د کار زمینې رامنځته کول د هرې ټولنې د اقتصادي، ټولنیز او اداري ثبات بنسټیز رکن ګڼل کېږي. هغه ټولنه چې د خپلو وګړو لپاره کاري فرصتونه ولري په تولید، نوښت، سوکالۍ او د ژوند د کیفیت لوړولو په برخه کې دوامداره پرمختګ تجربه کوي. د یوې تولیدوونکې، فعالې او اقتصادي ځان بسیا ټولنې جوړښت د کاري فرصتونو په شتون، کیفیت، دوام او مناسبت پورې تړلی دی.

د کار زمینه نه یوازې اقتصادي اهمیت لري، بلکې د ټولنیز نظم، امنیت، ثبات، د ادارو شفافیت او د حکومت د مشروعیت لپاره هم حیاتي ارزښت لري. په پرمختیایي ټولنو کې د کاري فرصتونو نشتوالی او بېکاري یوازې د عاید کموالی نه زېږوي، بلکې د ټولنیزو ستونزو لکه: جرمونو، روږدتیا، کورنیو شخړو، غیر قانوني مهاجرتونو او د ځوانانو انرژۍ ضایع کېدو ته هم لاره هواروي. د کاري فرصتونو نشتوالی د ټولنې د استعدادونو ضایع کېدو، د مهارتونو نه پرمختګ او اقتصادي انحصار د پراختیا سبب ګرځي.

کار د انساني ژوند لپاره بنسټیزه اړتیا ده، ځکه چې د کار له لارې نه یوازې عاید تولیدېږي، بلکې د کورنۍ د ښوونې، روزنې، روغتیایي خدمتونو، متوازن ژوند او ټولنیز نظم لپاره هم بنسټ برابروي. پر همدې اساس د کار د زمینې رامنځته کول د اقتصادي ودې، ټولنیز نظم، سولې، شتمنۍ وېشل او د فقر د کمښت لپاره ستر اهمیت لري.

د کار د فرصتونو پراختیا یوازې د حکومت مسوولیت نه دی؛ بلکې دا د ټولنې د ټولو اړخونو ګډ کار ته اړتیا لري. خصوصي سکتور، پانګه‌وال، مدني ټولنې، سوداګریزې اتحادیې، ټولنیز سازمانونه او د خلکو پوهاوی باید په ګډه کار وکړي، څو د کاري فرصتونو لپاره دوامداره، عادلانه او پایښت لرونکې لارې چارې رامنځته شي.

په افغانستان او ورته پرمختیایي هېوادونو کې د کار زمینې رامنځته کول یوازې د عاید د زیاتوالي وسیله نه ده، بلکې د ټولنې د ثبات، انسجام، پرمختګ او د ځوانانو د راتلونکي جوړونې لپاره یوه حیاتي ستراتېژي ده. د دې موضوع علمي، تحلیلي او عملي څېړنه کولای شي د کاري فرصتونو د پراختیا موثرې لارې چارې وښیي، د اقتصاد او ټولنې ترمنځ همغږي زیاته کړي او د یوه باثباته، نوښتګر او پرمختللي هېواد بنسټ کېږدي.

**د کاري زمينې رامنځته کولو کې د خصوصي سکتور ونډه**

خصوصي سکتور د اقتصادي ودې او د کاري فرصتونو د پراختيا تر ټولو قوي او دوامدار محرک ګڼل کېږي. هغه ټولنه چې په کې خصوصي سکتور فعال او متنوع وي، طبيعي ده چې د کار بازار په کې چټک او متوازن پرمختګ کوي. د خصوصي سکتور پراختيا نه يوازې مستقيم کاري فرصتونه رامنځته کوي، بلکې د غير مستقيم فرصتونو، مسلکي مهارتونو، تخنيکي ظرفيتونو او نوښتونو د پراختيا لپاره هم کليدي نقش لوبوي.

کله چې نوي کاروبارونه پيل شي، فابريکې جوړې شي، توليدي ماشينونه فعال شي، شرکتونه نوې څانګې پرانېزي او پانګه‌وال په ډاډه زړه خپلې پانګې ولګوي، نو په زرګونو مستقيم او غير مستقيم کاري فرصتونه رامنځته کېږي. د نوي توليدي مرکز، شرکت يا خدماتي بنسټ په پرانېستلو سره، د کار بازار نوي مهارتونه جذبوي، د مسلکي روزنې اړتياوې زياتوي او د ټولنې اقتصادي بنسټونو ته لا وده ورکوي.

خصوصي سکتور د نوښت او توليد د زياتوالي اصلي محرک بلل کېږي. کله چې شرکتونه او توليدي فابريکې فعاليت وکړي، نو د سوداګريو، صادراتو، مهارتونو او تخنيکي زده‌کړو پراخېدو ته زمينه برابروي او ترڅنګ يې نوښتګر شرکتونه د نوې ټکنالوجۍ معرفي، عصري مديريت، مسلکي روزنه او د توليد د کيفيت لوړولو لارې چارې رامنځته کوي، چې دا ټول د کار بازار پياوړی کوي او د اقتصادي ودې دوام تضمينوي.

حکومت په دې پروسه کې حياتي رول لري. د ماليې مناسب او شفاف سيستم، د کاروبار د قوانينو ساده کول، د جوازونو اخيستلو اسانتياوې، د پانګونې خونديتوب، د پانګې د ساتنې قانوني ملاتړ او د اداري فساد څخه مخنيوی هغه بنسټونه دي، چې د خصوصي سکتور د فعالېدو لپاره اړين دي. کله چې دا شرايط برابر شي، پانګه‌وال زړه ور کېږي، اقتصادي فعاليت چټک او دوامدار کېږي چې د کار د فرصتونو پراختيا په طبيعي ډول پراخېږي.

سربېره پر دې، د خصوصي سکتور پياوړتيا نه يوازې اقتصادي اهميت لري، بلکې د ټولنيز ثبات، د ځوانانو د مسلکي پرمختګ، د نوښت او د ټولنې د اوږدمهاله سوکالۍ لپاره هم حياتي ارزښت لري. په يوه ټولنه کې چې پکې خصوصي سکتور قوي وي، نه يوازې د کار فرصتونه زياتېږي، بلکې د توليد ظرفيت لوړېږي، پانګه‌وال جذبېږي، مهارتونه پراخېږي او ټولنه په عمومي توګه له اقتصادي او ټولنيز پلوه پرمختګ کوي.

د خصوصي سکتور پياوړتيا د کار بازار د پراختيا، د اقتصادي ودې او د ټولنې د اوږدمهاله پرمختګ لپاره نه بېلېدونکی رکن ګڼل کېږي او د هر پرمختللي ملک لپاره د ملي ستراتېژۍ يوه مهمه برخه ده.

**د حکومت د عامه پانګونو او زيربناوو ارزښت**

حکومت د لويو اقتصادي، ټولنيزو او خدماتي پروژو د پلي کېدو اساسي او بې بديله ځواک ګڼل کېږي. د هر ملک د اقتصادي حرکت او د پرمختګ دوام د عامه پانګونو او زيربنايي جوړښت د پياوړتيا سره نېغ تړاو لري. کله چې حکومت په منظمه توګه د سړکونو، پلونو، بندونو، برېښنا شبکو، د اوبو لګولو کانالونو، ښوونځيو، پوهنتونونو، روغتونونو، بندرونو، صنعتي پارکونو او ترانسپورتي دهليزونو جوړولو کې پانګونه کوي؛ نو دا يوازې د عمومي اقتصاد د حرکت لپاره نه، بلکې په زرګونو مستقيم او غير مستقيم کاري فرصتونه هم رامنځته کوي.

زيربناوې يوازې د لنډ مهال لپاره کارموندنه نه زياتوي؛ بلکې د خصوصي سکتور د پراختيا، د سوداګرۍ د ودې، د سيمو نښلولو، اړيکو، د صادراتو زياتوالي او د پانګونې جلب لپاره هم ژورې اغېزې لري. هر نوی سړک، هر بند، هر صنعتي پارک او هره برېښنا شبکې د اقتصادي فعاليتونو اوږدمهاله ګټې نغښتې دي، چې د خلکو د ژوند معيار لوړولو او د ټولنې د سوکالۍ لپاره حياتي رول لري.

عامه پانګونه د اقتصاد د رګونو په څېر ده؛ لکه څرنګه چې د بدن رګونه وينه هر ځای ته رسوي، حکومت هم د زيربنايي پروژو له لارې اقتصاد ته وده او دوام ورکوي. په ځانګړې توګه په هغو هېوادونو کې چې د بېکارۍ، فقر او اقتصادي محدوديتونو ستونزه شته، د زيربناوو پراختيا کولای شي د کار د بازار د ودې لپاره بنسټيز بدلون رامنځته کړي او د ټولنې د بې وزلۍ د کمښت لپاره مستقيمه اغېزه ولري.

ګټوره عامه پانګونه يوازې د اقتصادي ودې ضمانت نه کوي؛ بلکې د ټولنيز ثبات، د دولت د اعتماد لوړولو، د خلکو هوساينې، او د خصوصي سکتور د پياوړتيا لپاره هم حياتي اهميت لري. د زيربناوو دوامداره پراختيا، توليد، نوښت، د پانګې جذب، د مهارتونو پراختيا او د ټولنې د اوږدمهاله اقتصادي او ټولنيز سوکالۍ لپاره کليدي لامل ګڼل کېږي.

حکومت د عامه پانګونو له لارې نه يوازې د کار فرصتونه رامنځته کوي، بلکې د اقتصادي، ټولنيز او اداري سيستم د پياوړتيا او دوام لپاره هم بنسټيزه ونډه لوبوي. د هر پرمختللي ملک لپاره د زيربنايي پانګونو ستراتېژيک پلان، ملي پرمختګ او د خلکو ژوند د کيفيت لوړولو لپاره له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي.

**د کرنې او مالدارۍ د سکتور پراخوالی**

کرنه د افغانستان او ورته پرمختيايي ملکونو د اقتصاد تر ټولو ستر او مهم سکتور بلل کېږي. د دې سکتور اهميت يوازې د خلکو د ژوند د بنسټيزو اړتياوو په تأمين کې نه دی، بلکې د اقتصادي ودې، د کار فرصتونو د زياتوالي، د صادراتو پراختيا او د ټولنيز ثبات په برخه کې هم کليدي رول لري. د ملک د وګړو لويه برخه مستقيم يا غير مستقيم د کرنې او

مالدارۍ سره تړلې ده چې د دوی ژوند او عاید د دې سکتور په فعالیتونو پورې اړه لري.

د کرنې د سکتور پراختیا ځو اړخیزه اغېزه لري. د اصلاح شویو تخمونو وېشل، عصري اوبو لګونې سیستمونو جوړول، کرنیزو ماشینونو او عصري تخنیکونو کارول، د کرنیزو فابریکو جوړول او د مالدارۍ د مسلکي ملاتړ پراختیا، زرګونو خلکو لپاره دایمي، مناسب او شفاف کاري فرصتونه رامنځته کوي. دغه فرصتونه نه یوازې د فرد اقتصادي وضعیت پیاوړی کوي، بلکې د ټولنې د اقتصادي فعالیتونو د پراخېدو سبب هم ګرځي. د محصولاتو کیفیت ښه کېږي، د کورني بازار اړتیاوې په اغېزمنه توګه پوره کېږي او د صادراتو ورتیا لوړېږي چې دا خپله د ملي عاید د زیاتوالي لامل ګرځي.

سربېره پر دې، د کرنیزو محصولاتو د پروسس، بسته‌بندۍ او مارکېټ موندنې مرکزونه د اقتصادي ارزښت زنځیر اوږدوي. دا مراکز د تولید د لومړني پړاو څخه تر وروستي مصرف پورې د محصولاتو ارزښت لوړوي، نوې صنعتي او تجارتي لارې پرانېزي او د نویو کاري فرصتونو د رامنځته کېدو سبب ګرځي. عصري کرنې او مالدارۍ سیستم د کلیوالو ځوانانو لپاره د کار او مسلکي فعالیت زمینه برابروي، د ښارونو او بهرنیو هېوادونو د مهاجرت مخه نیسي او د سیمو د اقتصادي ځان بسیا کې مهمه ونډه لري.

د کرنې او مالدارۍ د پراختیا اغېزې یوازې اقتصادي نه دي؛ بلکې ټولنیز او انساني ارزښتونه هم پکې شامل دي. کرنه د عاید د زیاتوالي، د کورنۍ ژوند د معیار لوړولو، د خوراکي خوندیتوب تضمین، ټولنیز ثبات او د ځوانانو د مهارتونو د پراختیا له لارې، د ملي پرمختګ یو بنسټیز او ستر فرصت ګڼل کېږي.

په ټولیز ډول، د کرنې او مالدارۍ سکتور د هر پرمختیایي ملک د اقتصادي، ټولنیز او انساني ودې لپاره حیاتي اهمیت لري. د دې سکتور پیاوړتیا، د کار بازار پراختیا، د خصوصي سکتور ودې، د صادراتو زیاتوالي او د ټولنې اوږدمهاله اقتصادي ثبات لپاره ستر فرصتونه رامنځته کوي چې دا د یوه ملک د ملي سوکالۍ، ثبات او خپلواکۍ بنسټ جوړوي.

**مسلکي زده کړې او مهارتونه**

علمي، مسلکي او تخنیکي مهارتونه د کار د بازار د پراختیا او د اقتصادي ودې بنسټیز او ستر لامل ګڼل کېږي. هر ملک هغه مهال د اقتصادي، ټولنیز او انساني پرمختګ په لور حرکت کولای شي چې ځوانان یې د علم، مهارت، تخنیکي او عصري وړتیاوو په برخه کې بشپړ چمتو وي. د دې مهارتونو نشتوالی نه یوازې د بېکارۍ زیاتوالي لامل ګرځي، بلکې د ټولنې د اقتصادي، ټولنیز او فکري پرمختګ مخه هم نیسي.

کله چې ځوانان مسلکي تخصصونه، عصري مهارتونه او نوښتګرې وړتیاوې ولري، نو دوی کولای شي په کورني بازار کې په اسانه کار پیدا کړي، د فابریکو، شرکتونو او خدماتي سکتورونو اړتیاوې پوره کړي او همدارنګه په نړیوال بازار کې د ارزښت وړ کار ځواک شي. دا خپله د ملک د اقتصادي ودې، صادراتو پراختیا، د سوداګرۍ پراختیا او د نوښتګرو سوداګریزو فرصتونو لپاره اساسي بنسټ برابروي.

د مسلکي زده کړو پراختیا د اقتصاد د متنوع کولو لپاره حیاتي ارزښت لري. د تخنیکي او علمي روزنیزو مرکزونو پیاوړي کول، عصري روزنیزې برنامې جوړول، د صنایعو او خدماتي سکتور په اړتیاوو ځوانان سمبالول، د نوښتګرو مهارتونو روزنه او د عصري ټکنالوژۍ کارونې ته وده ورکول، د کاري فرصتونو د پراختیا اساسي لارې چارې دي. له دې لارو ځوانان نه یوازې د دایمي کار فرصتونو سره مخ کېږي، بلکې د کیفیت لرونکو موادو تولید، خدماتو او د اقتصادي ارزښت د لوړوالي لامل هم ګرځي.

په نننۍ نړۍ کې چې سیالي او تکنالوجي په چټکۍ سره وده کوي، عصري مهارتونه یوازې د کاري فرصتونو لپاره نه، بلکې د نوښت، خلاقیت، د ټکنالوجۍ جذب او د خپلواک کار کولو لپاره هم اړین دي. ځوانان کولای شي خپل کسبونه پیل کړي، خپل عاید تولید کړي او حتی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د جوړښت برخه شي. دغه مهارتونه د ټولنې د اقتصادي ځان بسیا، د کاري ځواک د کیفیت لوړتیا او د نورو تولیدي او خدماتي سکتورونو د پراختیا لپاره حیاتي ارزښت لري.

په ټوله کې، مسلکي زده کړې او مهارتونه د کار د بازار د دوامدارې پراختیا، د ځوانانو د اقتصادي ځواک لوړولو، د ټولنې د سوکالۍ او د ملک د اقتصادي ځواک د پیاوړتیا لپاره یوه ستره سرمایه ګڼل کېږي. هره پانګونه چې په ښوونه، تخنیکي روزنه او مهارتونو کې کېږي، د راتلونکي لپاره د کار فرصتونو، اقتصادي ثبات او ټولنیز پرمختګ تضمین بلل کېږي.

**د پانګونې خوندیتوب او د قانون حاکمیت**

پانګه او اقتصادي فعالیت یوازې هغه وخت دوامداره، ګټوره او پایدار وي چې په ټولنه کې سیاسي ثبات، امنیت او د قانون حاکمیت شتون ولري. د پانګونې بهیر د هر ملک د اقتصادي ودې او کار د فرصتونو د پراختیا اساسي شاخص بلل کېږي. خو ناامني، اداري فساد، سیاسي بې‌ثباتي، د قوانینو نیمګړې پلي کول او د ملکیت د حقوقو نشتوالی د دې بهیر مخه نیسي او د اقتصادي ودې پر وړاندې ستر خنډونه رامنځته کوي. چې کله پانګه‌وال او سوداګر په خپلو پانګو باور او ډاډ ونه لري؛ نو دوی د نویو کاروبارونو، تولیدي او پراختیایي پروژو پیل او پرمخ وړلو لپاره زړور نه پاتې کېږي چې دا خپله د کاري فرصتونو د راکمېدو لامل ګرځي.

د قانون پال، شفاف او روڼ چاپېریال شتون د پانګونې د خوندیتوب بنسټ دی. د قوانینو عادلانه پلي کول، د قضایي اسانتیاوو شتون، د

ملکيت د حقوقو خونديتوب، د قراردادي ژمنو دقيق په پام کې نيول او د پانګې د ساتنې يقيني تضمين، ټول د دې لپاره حياتي ارزښت لري چې پانګه‌وال په ډاډه زړه خپلې پانګې د کار، توليد او پانګونې په لور وسپاري، دا موارد نه يوازې د خصوصي سکتور لپاره اړين دي، بلکې د حکومت د کار موثريت، د خلکو باور، د ټولنيز نظم او اقتصادي ثبات لپاره هم ستر ارزښت لري.

سربېره پر دې، د پانګونې خونديتوب يوازې د قوانينو د موجوديت موضوع نه ده، بلکې د دې قوانينو د عملي پلي کېدو تضمين هم اړين دی. د شفافو ادارو شتون، د فساد ضد قوي ميکانيزمونه، مالي او عدلي اسانتياوې، د کاروبار ساده کړنلارې او د پانګونې د ټولو اړخونو لپاره قانوني ملاتړ، پانګه‌والو ته ډاډ ورکوي چې د دوی پانګه خوندي ده، د زيان خطر لږ دی او اوږدمهاله اقتصادي ګټې ترلاسه کول ممکن دي.

همدارنګه د پانګونې خونديتوب، د اقتصادي پلانونو دوام، د توليدي پروژو پرمختګ، د کاري فرصتونو پراختيا او د نوښتګرو سوداګريزو نظرياتو د تحقق لپاره بنسټيز لامل بلل کېږي. په داسې چاپېريال کې پانګه‌وال نه يوازې خپل کاروبار پراخوي، بلکې د ځوانانو لپاره د کار فرصتونه رامنځته کوي، د ټولنې اقتصادي ځواک پياوړی کوي او د خلکو ژوند ته ثبات او سوکالي رسوي.

د پانګونې خونديتوب او د قانون حاکميت د کار زمينو د رامنځته کولو لپاره بنسټيز او نه بدلېدونکي ارونه دي. بې له دې قوي او پايدارو بنسټونو نه حکومت، نه خصوصي سکتور او نه هم ټولنه په ګټوره توګه اقتصادي پرمختګ، د کار د بازار پراختيا او د ټولنې د سوکالۍ تحقق ترلاسه کولای شي. د پانګونې خونديتوب او د قانون حاکميت د هر ملک اقتصادي ځواک او د خلکو د هوساينې لپاره حياتي ارزښت بلل کېږي.

## د صادراتو او سوداګرۍ پراختيا

صادرات او سوداګري د اقتصادي ودې، د کار د فرصتونو زياتوالي او د ټولنې اقتصادي ځواک د پياوړتيا لپاره له ستر اهميت څخه برخمن دي. هغه ټولنې چې په نړيوال بازار کې د صادراتو وړتيا لري، نه يوازې کولای شي د توليد ظرفيت لوړ کړي، بلکې د کاري فرصتونو پراختيا، د پانګونې جلب، او د نوښتګرو سوداګريزو فعاليتونو لپاره مناسب چاپېريال هم برابر کړي. د صادراتو ځواک يوازې د توليد د کميت زياتوالي پورې محدود نه دی، بلکې د توليد کيفيت لوړول، د داخلي بازار اصلاح، د سوداګريزو اړيکو پراخوالی، د ګمرکي اسانتياوو او تشويقي سياستونو رامنځته کول، د ټرانسپورټي او لوژستيکي زير بناوو پياوړتيا او د نړيوالو معيارونو سره د توليد تطبيق، ټول د دې ځواک مهم اړخونه دي.

کله چې د کورنيو توليداتو کيفيت لوړ شي، توليدونکي خپل محصولات په نړيوالو بازارونو کې د سيالۍ لپاره وړاندې کولای شي. دا کار نه يوازې د اقتصادي ارزښت زنځير اوږدوي، بلکې د نوي کاري ځواک جذب، د توليد نورو طريقو او د ټکنالوجۍ د انتقال زمينه برابروي. د سوداګرۍ اسانتياوې لکه: ساده صادراتي قوانين، د ګمرک کمښت، منظم او مناسب مالياتي سيستم، د تجارتي شبکو پراختيا، له نړيوالو بازارونو سره مستقيمې اړيکې او د بازار موندنې تخنيکي ملاتړ، د پانګوالو او توليدونکو زړورتيا زياتوي او د اقتصادي فعاليت دوام تضمينوي.

سربېره پر دې، صادرات او سوداګري د کورني توليد د پرمختګ، د صنعت د پراختيا، د خدماتو سکتور د لوړوالي، د عصري ټکنالوجۍ د جذب او د تخنيکي او مسلکي مهارتونو د پراختيا لامل ګرځي. هره صادراتي پروژه نه يوازې د کار نوې لارې پرانېزي، بلکې د اقتصاد تنوع او د کورني توليد د زياتوالي سره هم مرسته کوي. دا بهير د ټولنې اقتصادي ځان بسيا، د خلکو د عايد ثبات، د دولت د عوايدو پياوړتيا او د نړيوالو اقتصادي تعاملاتو لپاره اوږدمهاله ګټې برابروي.

په ټوليز ډول، د صادراتو او سوداګرۍ پراختيا د کاري زمينې د رامنځته کولو، د پانګونې د جلب، د خصوصي سکتور د ودې، د ټولنيز ثبات او د اقتصادي ودې لپاره حياتي رول لري، چې د دې پراختيا لپاره اړينه ده حکومت، خصوصي سکتور، سوداګريزې اتحاديې او نړيوالې ادارې په ګډه سره همکاري وکړي، د پانګونې چاپېريال خوندي کړي، د کيفيت معيارونه لوړ کړي، د توليد او صادراتو لپاره نوې لارې چارې رامنځته کړي.

سرچينې


۱-د افغانستان د احصايې او معلوماتو اداره (CSO). (۲۰۲۲). د افغانستان اقتصادي وضعيت راپور. کابل؛د احصايې او معلوماتو اداره.

۲-د نړيوال بانک. (۲۰۲۱). Afghanistan Development Update: Creating Jobs and Promoting Private Sector Growth. Washington, D.C.: World Bank.

۳-د افغانستان د کرنې وزارت. (۲۰۲۲). د کرنې او مالدارۍ سکتور کلنی راپور. کابل؛ د کرنې وزارت.

۴-احمد، خالد. (۲۰۱۸). اقتصادي پراختيا او د کار د فرصتونو رامنځته کول. کابل؛پوهنتون مطبوعات.

۵-نجيب، فريد. (۲۰۱۹). خصوصي سکتور، پانګونه او اقتصادي ودې ستراتېژي. کابل؛ د اقتصاد څېړنيز مرکز.

٦-رحماني، سميع الله. (۲۰۲۰). مسلکي زده کړې او مهارتونه د کار د بازار د ودې لپاره. کابل؛ د علومو او مهارتونو خپرندويه ټولنه.



# نقش صـــادرات در توسعه اقتصـــادی افغانســـتان

نویسنده: میترا کاظمی

هر ملک با توجه به موقعیت جغرافیایی، شرایط اقلیمی، منابع طبیعی و ظرفیت‌های انسانی خود، مسیر ویژه‌ای را برای رشد و توسعه اقتصادی برمی‌گزیند. برخی با تکیه بر صنعت، برخی با اتکاء به خدمات و برخی دیگر با بهره‌گیری از زراعت و منابع طبیعی توانسته اند پایه‌های اقتصاد خود را استوار سازند. در این میان، آنچه اهمیت اساسی دارد، شناخت درست ظرفیت‌ها و استفاده هدف‌مند از آن‌ها در راستای منافع ملی است. افغانستانِ نیز از این قاعده مستثنی نیست و با برخورداری از موقعیت مناسبِ جغرافیایی و تنوع اقلیمی، توان بالقوه‌ی برای رشد اقتصادی دارد که در صورت مدیریت درست، می‌تواند به ظرفیت بالفعل تبدیل شود.

افغانستان از نگاه جغرافیایی در نقطه‌ی قرار گرفته است که می‌تواند نقش مهمی در اتصال کشورهای منطقه ایفاء کند. هم‌مرزی با چندین کشور، این فرصت را فراهم می‌سازد تا روابط تجاری گسترده‌ی با بازارهای مختلف برقرار گردد. این موقعیت، اگر با برنامه‌ریزی دقیق و سیاست‌های اقتصادی کارآمد همراه شود، می‌تواند به یکی از مهم‌ترین عوامل توسعه‌ای اقتصادی کشور مبدل گردد. تجربه‌ای کشورهای مختلف نشان می‌دهد که تجارت و صادرات، از اساسی‌ترین ابزارهای رشد اقتصادی بوده و کشورهایی که توانسته‌اند صادرات خود را تقویت کنند، مسیر پیشرفت را با سرعت بیشتری پیموده اند.

